بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** د تصدۍ اقتصاد

**څانګه:** بانکداري، محاسبه او د تجارت اقتصاد

**راټولونکی:** نصیر احمد " سخي"

**ژباړن:** روح الله عزتمل

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- شیرآقا صنعت یار
- عبدالجمیل ممتاز

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول:** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** عبدالله شاهي

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۲۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

**د ISBN کډ:** ۹۷۸-۹۹۳۶-۳۰-۰۸۰-٤


Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزارت پېغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لـــړ لیـــــک


| څپرکي | سرلیکونه | مخ |
|---|---|---|
| لومړی | اصطلاحات او مفاهیم | ۱ |
| دویم | عمومیات | ۹ |
| درېیم | تولید | ۱۹ |
| څلورم | د تصدي پلان جوړول | ۲۷ |
| پنځم | د تولیدوونکي د انتخاب نظریه | ۳۳ |
| شپږم | لګښتونه | ۴۱ |
| اووم | د تولید د لاملونو بازارونه | ۵۱ |
| اتم | استهلاک | ۶۳ |
| نهم | تمویل | ۷۱ |
| لسم | بازار موندنه (مارکیټینګ) | ۷۷ |
| سرچینې او اخځلیکونه | | ۸۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سريزه

د دې کتاب د وړاندې کولو هدف دا دی ترڅو زده کوونکي د يوې بنسټيزې او مهمې څانګې په توګه د اقتصاد علم وپيژني او همداراز د اقتصاد په اساساتو او اصولو وپوهيږي، له بلې خوا د اقتصاد د هغو اصولو په پلي کولو کې چې د تصميم نيولو او د توليد د مديريت لپاره ورڅخه ګټه اخيستل کيږي، وتوانيږي.

لکــه څرنګه چې اقتصاد په دوه کوچنيو او لويو څانګو ويشــل شــوی ، کوچنــی اقتصاد، د اقتصادي واحدونو کړنلاره تربحث او څيړنې لاندې نيسي، چې دغه واحدونه عبارت دي له مصرف کوونکو، کاريګرو، سرمايــه لرونکــو، تصدي، د ځمکو مالکان او شرکت لرونکي او ســوداګر. په حقيقــت کې هرڅوك چې په اقتصاد کې رول ولوبوي، کوچنی اقتصاد بيانوي.

دا چــې تصدۍ او موسســات څرنګــه تصميم نيسي ترڅو خپلې ګټې لوړې کچې ته ورســوي، څومره کارګرانــو او سرمايــې ته اړتيا لري او يا دا چې هــر کارګر په څومره تنخوا کار کوي، کوچنی اقتصاد به يې ارزونه وکړي.

د اقتصاد نړيوالې کچې ته په پاملرنې سره، آزاد بازار ته او همداراز اقتصادي سيستم ته زموږ د هيواد رسيدل دې ته اړتيا لري ترڅو د لاسته ته راغلو چانسونو څخه ګټه پورته کړو او د نړيوالو اقتصادي اصولو څخه په ګټې اخيستنې سره خپل اقتصاد پياوړی کړو.

لکه څرنګه چې زموږ بحث هم کوچنی اقتصاد دی او د توکواو خدماتو د توليد پورې اړه لري نو ځکه د اقتصاد مهم محور چې د تصدي اقتصاد دی وړاندې کوو.

په عمومي ډول په کې کتاب کې راټول شوي مطالب په لسوفصلونو کې ترتيب شوي چې لومړی فصل يې مفاهيم او اوصطلاحات دي ، دوهم فصل په عمومي ډول ماهيت، اصول، د اقتصاد د علم تاريخ او موضوع ، په دريم فصل کې د توليد په اړه مفاهيم، توليد ترکيب او د توليد لاملونه، په څلورم فصل کې د تصدۍ پلان جوړونــه او د هغــې رول او اهميت، په پنځم فصل کې د توليد اندازه او د توليد کوونکي انتخاب، په شــپږم فصل کې مصارف او ډولونه يې، په اوم فصل کې د توليد دلاملونو بازارونه، په اتم فصل کې اســتهلاك او د هغه ډولونه، په نهم فصل کې د سرمايې چمتو کول او د تمويل طريقه او په لسم فصل کې بازار موندنه او په تصديو کې د هغه رول او اهميت بيانيږي.

په دې کتاب کې کوښښ شوی ترڅو د اوسني ښوونيز سيستم اړتياوو ته په کتوسره مهم او بنسټيز موضوعات په ساده او لنډ ډول بيان شي او هرفصل يې په پنځه برخو، ټوليز هدف، ښوونيز هدف، د فصل منځپانګه، د مطالبو خلاصه او همدارنګه وروستۍ پوښتنې دي چې د محصلينو د ښې مطالعې او څيړونې وړ وګرځي.

امید دی چې په دغه کتاب کې ذکر شــوي مطالب د لوســتون**کو د پام وړ وګرځي او ورڅخه ســالمه** ګټه واخلي.

**په درناوي**

**نصير احمد سخي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب ټولیزه موخه:

د دغه کتاب له بشپړولو سره د تصدۍ د اقتصاد له اصطلاحاتو او مفاهیمو، د تولید اړوند مفاهیمو او په تصدۍ کې د پلانګذارۍ مسایلو سره آشنایي ترلاسه کوئ. همدارنګه د استهلاک پر لارو چارو او د لازمو اطلاعاتو پر تمویل باندې پوهیږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## اصطلاحات او مفاهیم

**ټولیزه موخه:**

د تصدۍ د اقتصاد له بنسټیزو مفاهیمو او اصطلاحاتو سره آشنايي.

**د زده کړې موخې:** محصلین د دې څپرکې په پای کې باید لاندې موضوعات تعریف کړای شي:

- ارزښت، بازار، پیسې او توکي.
- پیسې، مزد، د سرچینو تخصیص.
- سوداګریزې نښې، قیمت، اقتصاد.
- پانګه، اخستونکي او د دې څپرکي شامل ټول اصطلاحات.

د هر علم په لومړنیو او بنسټیزو اصطلاحاتو باندې پوهیدل زمونږ سره مرسته کوي ترڅو په موضوع ښه وپوهیږو او په ښه توګه ورڅخه کټه تر لاسه کړو.

په دې څپرکي کې د دې کتاب له ټولیزې پوهنې سره چې د کتاب د راتلونکو څپرکیو ټولیز محور بلل کیږي، آشنايي پیدا کوو.

### ارزښت Value

ارزښت د هغه اهمیت څخه عبارت دی چې څوک ورته د ځانګړې خدمت په بدل کې قایل وي.

له یوې خوا توکي ارزښت لري ځکه د استفادې وړ دي، چې دې ارزښت ته د ګټې اخیستنې ارزښت ویل کیږي او له بلې خوا توکي یا جنسونه د تبادلې وړ دي، چې مبادلوي ارزښت ورته ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### بازار Market

هغه ځای چې عرضه کوونکي او اخسـیتونکي په منظم ډول جنسـونه تبادله کوي او په ګډه معاملې کوي او همداراز یو د بل له احواله ښه خبرېږي، له بازار څخه عبارت دی.

پـه بازار کې امکان لري چې خرڅوونکي او اخیسـتونکي په مسـتقیم ډول یو له بل سره ونه ګوري او د جنسونو اخیستل او خرڅول د تلیفون، انټرنیټ او فکس له لارې هم سرته ورسوي.

### پیسې Money

هر هغه شـی چې په یوه سیمه کې په عمومي ډول راکړه ورکړه ولري او د جنسونو د ورکولو په مقابل کې په عمومي ډول ومنل شي، له پیسو څخه عبارت دی.

یا په بل عبارت د جنسونو د ورکولو په مقابل کې عمومي وسیلې ته پیسې ویل کیږي.

د اقتصاد له پلوه او همداراز د اقتصادي چارو د کارپوهانو په باور په یوه ټاکلي چاپېریال کې د یوه ټولنیز محصول د ورکولو په مقابل کې رسمي وسیلې ته پیسې ویل کیږي.

یاپه بل عبارت: پیسـې هغې رسـمي وسـیلې ته ویل کیږي چې د وګړو د کار په مقابل کې د هغې په واسطه په یوه ټولنیز محصول باندې بشپړ قدرت، ملکیت او یا تصرف رامنځته شي.

له حقوقي پلوه پیسې د راکړې ورکړې وسیله ده چې د دولت لخوا تثبیت او اعلانیږي.

د دې لپاره چې له پیسـو څخه په ښه توګه ګټه واخیستل شي؛ نو باید ثابت قیمت ولري او په اسانۍ سره انتقال او وویشل شي.

### توکي Material

توکي او اضافي توکي چې د جنسونو په جوړولو کې ورڅخه کار اخیستل کیږي، توکي ګڼل کیږي.

### د مزد کم حد Minimum wage

د قانون په چوکاټ کې یوه کارګر ته کم څېز ورکولو ته حداقل مزد وایي، چې په عمومي ډول د یو ساعت کار په مقابل کې ورکړل شي.

### سرانه Per capita

دغه لغت په عمومي ډول ترلاسه کولو، تولید، لګښت او په همدې شکل نورو ته ویل کیږي.

### د اندیښنې وړ توکي Perishable goods

هغه توکو ته ویل کیږي، چې له منځه تلونکي وي او باید ژر لګښـت شي. د بېلګې په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هګۍ، کبان، میوې، شیدې او داسې نور.

### د سرچینو ځانګړي کول Resource allocation

د تولیــد د لاملونو تقســیم (په کاري قوت او سرمایې بانــدې) د تولید په بېلابېلو برخو باندې، د تولید د لاملونو کموالی د دې لامل ګرځي ترڅو سرچینې په ښــه توګه ځانګړې شي ترڅو د تولید قوت له ضایع کیدو وژغورل شي.

### اقتصادي او خدمتي عمر

د اقتصادي نظره د کالیو او ماشین آلاتو څخه د استفادې وخت سپما ته نږدیوالی لري.

### تخصصي کول Specialization

پــه بېلابېلو مرحلو کې د کارکوونکو لخوا د کار آســانه کولــو فعالیت یا تولید ته تخصصي کول ویل کیږي.

### د وخت په تېرېدو سره د مزد ورکول Time wage

د وخت په تېرېدو سره د مزدورانو تنخوا ورکول کیږي او د سرته رسیدلي کار پورې اړه نه لري، چې څومره کار شوی او یا څومره پاتې دی.

### سوداګریزې نښې Trade mark:

پــه تولید شــوو توکو بانــدې د یوې ځانګړې طرحې لګول ترڅو و پېژنــدل شي دا توکي د کوم شرکت یا کمپنۍ پورې اړه لري.

### صنفی ټولنې، کارګرې ټولنې Trade union

یوه ډله کارکوونکي چې په خپلو کې سره راټول شــوي وي او یوه ټولنه جوړه کړي او د خپلو ګټو د ترلاسه کولو لپاره د خپل بادار سره مشوره وکړي.

### قیمت price:

قیمت هغو نقدي پیسو ته ویل کیږي چې په بازار کې د توکو لپاره ځانګړې شوې وي، د قیمت تعینول په بازارونو کې مختلف وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### استهلاک Depreciation

له لګښت وروسته د شتمنۍ د ارزښت له مینځه تللو یا کموالي ته استهلاک وایي.

### لګښت Consumption

د توکو او یانورو اړینو شیزونو د رانیولو لپاره د یوې کورنۍ لګښت ته لګښت ویل کیږي.

### مزد wage

د کار په مقابل کې لاسته راوړنې ته مزد ویل کیږي.

مزد د سرته رسیدلي کار په مقابل کې ورکول کیږي، چې د یوساعت، یوې ورځې، یوې اونۍ او یا یو کال وروسته اخیستل کیږي.

### کار Work

د بدن یا فکر فعالیت چې د توکو د تولید او یا د کوم خدمت لامل وګرځي او یا یوکسب چې انسان په هغه لګیاوي.

### اقتصادي تصدي، اقتصادي واحد Firm

یو شرکت یا موسسه چې په اقتصادي فعالیت او یا اړتیاوو په له منځه وړلو بوخت وي.

### فعالیتونه Enterprise

لومړی:  هر ډول کار کسب او اقتصادي فعالیت.

دویم:  د کار د اداکولو لپاره زور او فکر ته فعالیت ویل کیږي.

### فابریکه Factory

هغه ځای چې د کار او یا ماشینونو په واسطه په کې مختلف توکي بدلیږي او بیا ورڅخه ګټور توکي جوړیږي.

### د ویشلو لګښت Distribution Cost

د خپرولو لګښت، هغه لګښت چې د هغه په واسطه توکي او خدمات  د تولید کوونکي څخه اخیستونکي ته رسیږي. د بېلګې په توګه د لېږد رالېږد لګښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### غیر عادي لګښتونه Abnormal Costs

هغه لګښــتونه چې د تولید د نشــتوالي په صورت کې منځته راځي، لکه اعتصاب، زیانونه او داسې نور.

### عادي لګښتونه Normal Costs

دا هغه لګښــتونه دي چې د تولید د لړۍ په اړه پرې فکر شــوی وي او د حاصل لاسته راوړلو ته یې هم طمعه وي.

### قوي صنعتونه Basic Industries

هغه تولیدي فعالیتونه چې د نورو صنعتونوپه پرتله ډېر اهمیت ولري او له توکو څخه یې په نورو صنعتونو کې کار واخستل شي. لکه د اوسپنې اوبه کول.

### زیات تولید Batch Production:

په زیاته اندازه د توکو تولید د بېلګې په توګه په یوه اندازه د یو ډول بوټانو تولید.

### جایزه Bonus

د ټاکل شوې تنخوا پرته د اضافي پیسو ترلاسه کول. د بېلګې په توګه کارګر چې د یو ښه کار په مقابل کې له خپل بادار څخه اضافي پیسې اخلي.

### د ګټې ګوټې بازار Boom Market

هغه بازار ته ویل کیږي چې په هغه کې له عرضې څخه تقاضا زیاته وي او قیمتونه هم لوړ وي.

### شتمني Capital

۱- هغه پیسې چې د یو اقتصادي فعالیت لپاره په کار واچول شي.

۲- پــه اقتصــاد پوهنه کې سرمایه له هغو توکو څخه عبارت ده، چــې د نورو توکو د تولید او اخیستلو په موخه ورڅخه کار اخیستل کیږي.

### پېرودونکی Client

هغه چاته ویل کیږي چې کوم جنس اخلي او یا یې غوښتونکی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د تولید لاملونه Factors of Production

هغــه قوت او فکــر چې د توکو په تولید کې ورڅخه کار واخیســتل شي یعنی کار، سرمایه او ځینې وخت ځمکه، ښه مدیریت او نور.

### د امکاناتو په پام کې نیول او لومړنۍ څېړنې Feasibility study

د سرمایې د لګښت په وخت کې په لازمو امکاناتو فکر کول او د احتمالي خنډونو لرې کول.

### ثابت قیمت Fixed Price

هغه ثابت قیمت چې د توکو د پلورلو لپاره ټاکل شوی وي او بدلون په کې رامنځته نه شي.

### د انګیزې جوړول او یا رامنځته کول Incentive Scheme

هغه برنامه یا طرح ده چې د هغې له امله کارکوونکي خپلو کارونو ته ښه وهڅول شي او کوښښ وکړي ترڅو د خپل بادار یا د کار له مشر څخه جایزه یا انعام ترلاسه کړي.

### په تولید کې بې تفاوتي Isoquant

د یو محصول څخه د تولید د یوې معینې اندازې لپاره د دوه لاملونه ترکیب ته بې تفاوتي وایي.

### له کاري قوت څخه ګټه اخیستل Labor Productivity

د تولید یا یو فعالیت په وخت کې د کاري قوت له زور څخه استفاده کول او دغه زور له تولید شوي محصول سره پرتله کول ، یعنې تولید شوی محصول د کارکوونکو د وړتیاوو سره پرتله کول.

### توکي Goods

توکي د انسانانو د ضرورت وړ وسایلو ته ویل کیږي یا په لنډ ډول توکي د انسانانو د اړتیاوو وړ خدماتو ته ویل کیږي.

### ثروت Wealth

اقتصادي ثروت د یو شخص نقدي او غیر نقدي شیانو ته ویل کیږي، لکه پیسې، ځمکه او نور.

### د پیسو بازار Money Market

د پیســو لومړني او دویم بازارونه چې په هغه کې پیســې بدلیږي او داسې معاملې کیږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو کال پورې اعتبار ولري.

## د شتمنۍ بازارونه Capital Markets

لومړنیو او دوېمو بازارونو ته ویل کیږي چې په هغه کې پیسې تبادله کیږي او معاملې هم په کې حد اقل یو کال او یا طویلمدت وي.

دغه بازارونه د سرمایې لپاره لویه لاره هواره وي ، د سرمایې په بازارونو کې معمولا تجارتي بانکونه، د بیمې شرکتونه او نور خلك پانګه اچونه کوي او د سرمایې په کار او بار کې اسانتیاوې رامنځته کوي.

## د بازار ارزښت Market Value

د یوې اندازې شتمنۍ د پلورلو قیمت ته د بازار ارزښت ویل کیږي.

د ثابت تولید لاملونه **Fixed Inputs**

د ثابت تولید لاملونه هغه ته ویل کیږي چې په یوه ټاکلي وخت کې په کې بدلون رانه شي.

د بدلون موندونکي تولید لاملونه **Variable Inputs**

د بدلون موندونکي تولید لاملونه هغه دي چې په یوه ټاکلي وخت کې په کې بدلون راشي.

## د تولید وختونه Production Function

د تولید وختونه د شرکتونو او تصدیو پورې اړه لري یعنې کله چې تصدي یا شرکتونه وغواړي تولید کولای شي.

## د تولید مرحلې Stage Of Production

د منځني او اخري تولید ترمنځ رابطې ته د تولید مرحلې ویل کیږي.

مرحله **I** **Stage I**

د متوسط تولید زیاتوالی چې تغیر هم په کې راشي.

مرحله **Ii** **Stage Ii**

له اندازې زیات متوسط تولید ترهغه چې وروستی تولید هیڅ رامنځته نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي لنډيز

د راتلونکو څپرکيو د اســانتيا لپاره موږ په لومړي څپرکي کې په اصطلاحاتو ښه وپوهيدو څکه پــه دې څپرکي کــې مونږ د اقتصاد او تصدۍ په اړه په مهمو اصطلاحاتو بحث او څېړنه وکړه؛ نو بــاور لرو چې محصلين به د لومړي څپرکي په مطالعې سره وشي کولای چې د راتلونکو څپرکيو په موضوعاتو په اسانۍ سره وپوهيږي او ورسره آشنا شي.

## د لومړی څپرکي پوښتنې

١- پيسې څه ته وايي؟

٢- په اقتصاد کې د سرچينو ټاکنه څه ګټې لري؟

٣- د ثروت او سرمايې ترمنځ څه فرق دی؟

۴- قيمت او ارزښت تعريف کړئ ؟

۵- د توليد لاملونه وليکئ؟

۶ - د لګښت په اړه څومره پوهيږئ؟

٧- د توليد ثابت او متغير لاملونه توضيح کړئ؟

٨- د توليد د پړاوونو په اړه څومره پوهيږئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## عمومیات

**ټولیزه موخه:**

د اقتصاد د علم له اساسي مسایلو سره اشنايي، په ځانګړي ډول د تصدۍ اقتصاد علم د دغه علم ماهیت، لوری او تاریخي پرمختګ بلل کیږي.

**د زده کړې موخې:** ددې څپرکي تر پایه پورې ټمه کیږي، چې محصلین په لاندې مسایلو و پوهیږي:

- اقتصاد څه ته وايي.
- اقتصادي اصول.
- د تصدي اقتصاد د علم موضوع.
- د تصدي اقتصاد د علم تعریف.
- د اقتصادي تصدۍ د علم تاریخچه او د پرمختګ لارې.

### اقتصاد څه شی دی؟

انســانان د خپل پیدایښــت څخه راپدیخوا د سرچینو له کموالي سره مخ دي او د دغه ټولنیزې ســتونزې سره یې مبارزه کړې له بلې خوا انســانان بېلابېلې غوښتنې لري کله چې یې یوه غوښتنه سرته ورسیږي بیا نورو شیانو ته اړتیا پیدا کوي.

نو ځکه ټولې اقتصادي پوښــتنې په دې واقعیت ولاړې دي چې موږ نه شــو کولای ټولو هغو شیانو ته لاس رسی پیدا کړو چې په ژوند کې ورته اړتیا پیدا کړو.

په اقتصاد کې محدودیت په دې معنی دی چې د انســانانو غوښــتنې او اړتیاوې د سرچینو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتله ډېرې زياتې دي.

د بېلګې په توګه تاســو ۲۰۰۰ زره افغانۍ د پوهنتون د لګښــتونو لپاره ځانګړې کړي چې په دغه دوه زره افغانيو تاسو قلمونه ، کتابچې ، کتابونه او هم جامې اخلئ نو که چېرې تاسو بازار ته د جامو اخيســتلو لپاره لاړ شــئ او يواځې د جامو قيمت له ۲۰۰۰ افغانيو پورته وي نو ستاسې د اړتيا وړ غوښتنې نه پوره کيږي.

په همدې توګه په مجموعي ډول تاسو نه شی کولای چې هره ورځ تر پوهنتون پورې په ټاکسي کې په لوړه کرايه تګ او راتګ وکړئ ځکه د پوهنتون څخه له فراغته پورې دومره امکانات نه لرئ.

پــه هرحال ، د سرچينــو له کموالي سره نه يواځې بيوزله هيوادونــه بلکه بډای هيوادونه هم مخامخ دي لکه د نړۍ ډېر سرمايه دار هيوادونه امريکا ، جاپان، فرانســه، المان او نور چې هغوی هم د ژوند ټولې پوره سرچينې په واك کې نه لري.

په داســې حال کې چې انســانان په ژوند کې بيلابيلې غوښتنې لري چې څو ټاکلې يې لکه د ودانيو ، پلونو ، سرکونو ، موټرو ، ډول ډول خوراکونو، ښه روغتيايي خدمات او نورې دي، نو دغې لاملونو ته په پام کې نيولو سره ويلی شو چې د اقتصاد علم لکه د نورو علومو په څېر پرواقعيتونو اونورو لاملونو باندې ولاړ دی چې د تيورۍ په واسطه منځته راځي.

په هر حال، تيوري له واقعيت پرته او واقعيت له تيورۍ پرته کومه خاصه معني نه لري.

**تيوري څه ته وايي؟** د علت او نتيجې ترمنځ متقابله اړيکه بيانوي.

او کوښښ کوي چې د (ولې) کلمه واضح او بيان کړي. د اقتصاد تيوري هم دا معنی لري.

د اقتصــادي تيورۍ هدف دادی چې پــه يوه اقتصادي نړۍ چې کومې پديدې رامنځته کيږي، روښانه او بيان کړي.

د نــړۍ ليکوالانــو د اقتصــاد علم ديــو ټولنيز علــم په توګه پيژنــدلی چې په دغــه علم کې انســانان په لومړي سرکې د کمو وســايلو څخه په ګټې اخيســتنې سره لويو هدفونو ته رســيږي. يــا پــه بل عبــارت: په اقتصادي علم کې کــولای شي چې د خپلو اړتياوو د پــوره کولو په خاطر د سرچينو څخه استفاده وکړي او ترڅيړنې لاندې يې ونيسي.

## اقتصادي پرنسيپونه

لکه څرنګه چې له يوې خوا انسانانو د خپل پيدايښت راپديخوا ګڼې ستونزې درلودې خو له بلې خوا اقتصادي پرنســيپونو هم له اتلســمې پيړۍ راپديخوا ځانته منظم شکل غوره کړ چې په لاندې ډول بيانيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف- لوی پرنســیپ Maximal:** په دغه پرنســیپ کې باید له خپلو وسایلو څخه ډېره اوښه نتیجه لاسته راشي د اقتصادي تصدۍ په دغه پرنسیپ کې باید د تولید لاملونه داسې رامنځته شي چې د کمیت او کیفیت له پلوه غوره وي او کومه ستونزه ونه لري.

**ب- کوچنی پرنسیپ Minimal:** په دغه پرنسیپ کې باید د کمو وسایلو څخه د کار اخیستنې وروسته یوه معینه نتیجه ترلاسه شي.

د اقتصادي تصدي له نظره په کم لګښت باندې، معین تولید ته کوچنی پرنسیپ وایي .

**ج- خیالي پرنسیپ Ideally:** په دغو پرنسیپونو کې له کمو وسایلو څخه د ډېرې ګټې اخیستنې ته لرل، چې دې موخې ته رسیدل نا ممکن کار دی، دغه پرنسیپونه عملي اړخ نه لري بلکې یواځې تیوري شکل لري.

دغه پرنســیپ نه یواځې په تصدۍ کې اړتیاوې بلکې د انســانانو لومړني ضرورتونه ( ډوډۍ، جامې، د اوسیدو ځای ) هم نه پوره کوي، همداراز فرهنګي او مدني اړتیاوې هم نه پوره کیږي.

## د اقتصادي تصدی د علم موضوع

د اقتصــادي تصدي د علم موضوع له ډېرو موضوعاتو څخه بحث کوي او همداراز اقتصاد په بیلابیلو برخو کې څیړي.

په عمومي ډول اقتصاد په دوه اصلي څانګو ویشــل شــوی چې د لوی او کوچني اقتصاد څخه عبارت دی.

## لوی اقتصاد macro economic

لویــې اقتصادي پدیدې، بیکارۍ، تورم، ملي عایــدات، قیمت او ګټه او نور په یو اقتصاد او یا ټولنه کې تربحث او څېړنې لاندې نیسي.

## کوچنی اقتصاد micro economy

پــه دغــه اقتصاد کې د کورنیو او تصدیــو لخوا تصمیم نیول کیږي او تولید شــوي توکي خاصو بازورونو ته وړاندې کیږي.


سره لــه دې پــه دغه اقتصاد کې بېلابېلې اقتصادي څانګې لکــه د تصدي اقتصاد، د بانکدارۍ اقتصاد، ټولنیز اقتصاد او کرنیز اقتصاد، ښودل شوي چې هر یو په ځانګړي ډول تربحث او مطالعې لاندې نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اقتصاد تصدي د سرچينو د ځانګړي کولو او له هغو څخه د ښــه  کار اخيســتلو غوره لارې تربحث او څېړنې لاندې نيسي.

پــه يــوه ټولنه کې سرچينې د هغې ټولنې  لويو ضرورتونو ته په کتلو سره ځانګړې کېږي.  چې د ښې پوهيدنې لپاره لاندې  بنسټيز عناصر تربحث او څېړنې لاندې نيسو.

**الف – اقتصادي عملونه، لګښــت او توليد:** د دې موضوع د روښانه کولو لپاره لاندې موډلونه په پام کې نيسو:




د دې دواړو قطبونو ترمنځ څرنګه اړيکه  رامنځته کولائ شو؟


لومړی اړتياوې پيلوو اووروسته بيا لګښت داسې تعريف کوو:

هغه شــيان چې انســان يې  په خپل لاس د خپلو اړتياوو د پوره کولــو لپاره ورڅخه کار اخلي لګښت بلل کيږي

يا هر هغه چې د هغه په واسطه شيان تبادله کيږي او ورڅخه ګټه اخيستل کيږي د بيلګې په توګه ډوډۍ چې پخوونکي يې لومړی د اړو ، خميرې ، او پخولو وروسته لاسته راوړي.

يا غنم چې لومړی اوړه کيږي او وروسته خميره کيږي او په پای کې په ډوډۍ بدليږي چې له ډوډۍ وړاندې شيان لګښت کيږي او ورسته ډوډۍ لاسته راځي.

په لاندې شکل کې معلوميږي چې څرنګه د دوه بيلابيلو عملونو څخه اقتصادي مسله رامنځته کيږي.




**ب:  اقتصــادي لاملونــه:** په لومړي سر کې مــادي سرچينو ته د انســان د لاس رسي لپاره دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادي لاملونه چې کورنۍ او تصدي دي ترڅېړنې لاندي نيسو .

کورنـــۍ د يوه اقتصادي واحــد څخه عبارت ده چې لومړی عمل يې لګښـــت دی چې د خپل ضرورت وړ شيان لاسته راوړي.

اقتصادي تصدي هغه لاملونه دي چې د کار په واســطه توليد او خدمات رامنځته کوي او لازم وســايل دخپل توليد لپاره اماده کوي په دې مانا چې مزدوران دکار لپاره اســتخدام کوي او د خپل امکان ترکچې لازم وسايل او مالي سرمايه په کار اچوي.

**ج: اقتصادي توکي:**

**۱- مــصرفي او توليدي توکي:** د سرچينو د ځانګړيتوب پــه وخت کې د مصرفي او توليدي توکو ترمنځ فرق د ضرورتونو ،او طبقه بندۍ پورې اړه لري هغه اقتصادي توکي چې لګښـــت کوونکي يې کاروي امکان لري چې ډېر دوام وکړي چې ګټه اخيستنه ورڅخه ډېره موده په پام کې ونيسي، د بيلګې په توګه کور ، موټر او يا دکور د ضرورت وړشيان يا هغه توکی چې ژر له منځه ځی لکه ډوډۍ، د سون توکي او نور.

برعکس توليدي جنســـونه يا توکي لکه ماشـــينونه، جنګي وسايل، د کارګرو لخوا د کار دوامدار وسايل او نور.

**۲- توليــد شــوي توکي او د توليد سرچينې:** که چيرې توکوتــه يواځې د توليد له پلوه وګورو نو ويلای شو هغه څه چې توليديږي او هغه څه چې د توليد لپاره کارول کيږي ډېر فرق لري.

**۳- محصولات او د توليد لاملونه:** په لنډ ډول د توليد لاملونه هغه جنســـونه يا توکي دي چې د درې ګوني ويش له مخې طبعی سرچينې، کار او سرمايه په لاره اچول کيږي.

بالاخــره دا پوښــتنه رامنځته کيږي چــې په کومه اندازه ذکر شــوي توليــدی لاملونه په يوه توليدونکی واحد بدليږي؟

ددې پوښتنې په ځواب کې بايد ووايو چې داعمليه په ښه توګه په اصولو د پوهيدنې وروسته منځته راځي.

## د اقتصاد د تصدی علم تعريف او څرنګوالی

اقتصادي تصدی پوهنه د اقتصادي علومو د مهمو او بنســـتيز څانګوڅخه ګڼل کيږي له ډېرې مـــودې راپديخوا د يو ځانګـــړي علم په توګه پيژندل کيږي او د اقتصادي چارو دکار پوهانو پام يې ځانته اړولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغــه علــم اقتصادي پيښـــي څيړي او هغه ته دحــل لارې لټوي اوهمداراز يې لكه د انســاني اوټولنيزو لاسته راوړنوپه څېر پرمختګ كړی او د یوتخصصی علم په توګه پيژندل كيږي.

## د ملي اوتصدی اقتصاد اصطلاحات په لاندی ډول بيانيږی

پــه هرحال د تصدی اقتصــاد پوهنې په اړه كــوم ځانګړی تعريف چې ټولوتــه دمنلو وړوي نلروخو بياهم لاندې ځوتعريفونو ته پام وكړئ:

۱- تصدی اقتصاد پوهنه هغه حقيقتونه اونوښــتونه بيانوی چې د تصدی په دننه كې شــتون ولري او د علمي او عملي معيارونو پربنسټ طرح شوي وي

۲- يوه تصدي يواقتصادي واحددی چې توليد شــوی وی اوله خرڅونې وروسته يې عايد لاسته راځي په دې ترتيب لګښــتونه په پام كې نيول كيږي، ماليات وركول كيږي او له پانګونې څخه يې دارايي لاسته راځي

كــورن دورفــر **Korndorfer**) د تصدی اقتصاد د يوې داســې وســيلې په توګــه پيژنی چې د يومنظم پلان له لاری د انسانانو د اړتياوو د له منځه وړلولپاره رامنځته شوې وي.

د پورته تعريفونو څخه داســې معلوميږي چې تصدي په خپل وار سره په هيڅ اقتصادي نظام كې موخه نه ده بلكه د ملي اقتصاد آخرنۍ موخې ته ( د انســانانو د ضرورتونو له منځه وړل ) د رسيدو وسيله ده.

د اقتصــادي تصدۍ علم چې د اقتصادي فعاليت د علم په نوم هم ياديږي څلور مهمې برخې لري چې د تهيه، توليد، فروش او مالي امورو څخه عبارت دي.

د اقتصادي تصدۍ علم، د هر انسان اقتصادي ستونزې ترڅېړنې لاندې نيسي او هغه ته د حل لاره پيدا كوي چې په دې توګه د يو خپلواك نظم شكل ځانته غوره كوي.

اقتصادي تصدۍ هغه موسســه ده چې د توليد لاملونه ترلاســه كوي او دغه لاملونه د توكو او خدماتو د خرڅولو لپاره كاروي.

د هرې تصدۍ بنســتيز او لومړني فعاليتونه د كاري قوت ، ماشينونو، وسايلو ، طبيعي سرچينو او نورو څخه ګټه كول دي چې د توكو او خدماتو په توليد كې كارول كيږي.

د توكــو او خدماتــو توليد هغه پړاودی چې د كاري قوت ، سرمايــې ، او خامو توكو له كارولو وروسته لاسته راځي او د يوې خاصې تكنالوژۍ په واسطه په محصول بدليږي.

دنړۍ اقتصادي سيســتم ته پــه كتوسره ( د ازاد بازار اقتصاد) دولــت په اقتصاد كې كم رول لوبوي ، نو تصدۍ د ټولنې اقتصادي بنسټونه جوړوي او د اقتصاد په پرمختګ كې مهم رول لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اقتصاد د تصدۍ لنډ تاریخ

ممکن تاسو ته دغه پوښتنه پیداشي چې اقتصاد کله او په کوم ځای کې رامنځته شو ، په ځینو ځایو کې راغلي چې لس زره کاله وړاندې انسانانو د اقتصادي فعالیت د لرلو له امله د محصولاتو راټولول پیل کړي وو خو له هغې دورې وروسته انسانان د تولید او لګښت پړاو ته داخل شول.

د انســان پیژندنــې او تاریــخ پوهنې بیلابیلې څېړنې ښــیې چې په هره دوره کې د انســانانو فعالیتونو سره فرق درلود.

په تاریخ کې داســې راغلي چې هر وخت نوی دولت رامنځته شــوی نو داسې فکر کیږي چې دغه ټولنه د اقتصاد نوي پړاو ته داخله شوې ده.

پــه لویدیــځ کې له بدلونو وړاندې او همداراز د ښــوونځیو د جوړیدو او ســوداګرو مخکې، اقتصاد یو اخلاقي اړخ درلود، خو د ښوونځیود رامنځته کېدو وروسته د اقتصاد مادي اړخ ته زیات پــام وشــو او د هیواد د ژغورنې یواځنۍ لاره فقط د توکــو تولید او د قیمتې فلزاتو راټول په ګوته شول او یو لوی بدلون رامنځته شو.

خو له دې زماني وړاندې د ( ۳۲۲- ۳۸۲ ) له میلاده وړاندې د ارســطو په وخت کې خلکو په طبیعي اقتصاد زیات باور درلود لکه د کورنۍ مشر چې به د خپل کور د اړتیاوو د پوره کولو لپاره یو طبیعي اقتصادي عمل سرته رساوه. او چاچې به یوڅه واخیستل نو هغه به بې د ګټې د ترلاسه کولو لپاره قیمته پلورل.

همدراز ( ۳۴۷ – ۴۲۷ ) له میلاده وړاندې د افلاطون اقتصادي فکر داســې وه چې پیســې او فضیلــت یــې د ترازو دوې پلې ګڼلې او دا ورته نــا ممکنه خبره وه چې د ترازو یوه پله دې درنه وي او بله سپکه.

د اسلامي اقتصاد لوی عالم ابن خلدون ( ۷۳۲ – ۸۰۸ ه ق ) د څوارلسمې او پنځه لسمې پیړۍ ترمنــځ اقتصادي فکر درلود. اروپــا د ابن خلدون په وخت کې اقتصادي پرمختګ وکړ او نوموړی په اقتصادي امورو کې د دولت پلوی وه.

ځنې لیکوالان په العبر کتاب کې ابن خلدون د اقتصاد د علم رامنځته کوونکی بولي.

سن توما داکن (۱۲۲۵-۱۲۷۴) د هغه وخت اقتصادي اخلاق په ښه توګه بیان کړي دي، د ده په نظر اقتصادي مسایل په عدالت پورې تړلي دي.

یوه بله مسله چې په ۱۳ پیړۍ کې رامنځته شوه هغه دا وه چې ایا (د سوداګر د ګټې په خاطر په لوړه بیه توکو پلورل څه پایلې لري ؟)

کارپوهان او څیړونکي د اقتصادي علومو پرمختګ د ۱۴ – ۱۶ پیړۍ راپدیخوا بولي، د پنځلسمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیړۍ راپدیخوا په اقتصادي پرمختګ کې یو لوی بدلون رامنځته شو.

د اروپایانــو لخوا په مدیترانې باندې له واکنمنۍ راپدیخوا او همداراز د ســوداګریزو اړیکو د پراخیدو وروسته ، په اقتصادي امورو کې لوی پرمختګ رامنځته شو.

لکه څرنګه چې وویل شــول د اقتصادي پیښــو تاریخ ، د اقتصادي تصدیو د فعالیت پیل وه او که په څرګند ډول د اقتصادي تصدیو نوم وانه خیســتل شــو په دې معنی نه دی چې دا عملي نه وه ځکه په هروخت کې د ځیږونکو او پوهانو لخوا په خپلو څیړنو کې د اقتصادي تصدۍ بیان شوی دی.

د تصــدي اقتصــاد علم له نولســمۍ پیړۍ تر پیل پورې ، د اقتصــاد عمومي اړخ درلود خو د نولســمې پیړۍ په لومړۍ لســمه کې د اقتصاد په اړه بیلابیلې څیړنې پیل شوې چې ښکاره بیلګه یې **J.V.Thunen** دی.

نومــوړي پــه خپل کتاب ( د زراعــت او ملي عایداتو په اړه د دولــت پاملرنه ) زراعتي تصدي ترڅیړنــې لاندې نیولې او زراعتي تولیدات یــې د خرڅلاو او بازار موندنې له پلوه ترڅیړنې لاندې نیولي دي.

په همدې ډول د اقتصاد د ریاضي مکتب موسس کورنو ( ۲۸۰۱ – ۱۸۷۷ **Augustin Antione Cournot** ) پــه یــو موډل کې د تابعیت او قیمت ترمنځ اړیکه ښــودلې ده او له دې لارې یې د پلورلو او دمصارفو د وړاندینې په اړه څیړنې کړې دي او په عمل کې یې پیاده کړي دي.

همدارنګه په ۱۹ پیړۍ کې زیات کشــفیات رامنځته شــول او د انسانانو په واسطه دکار سرته رســول د ماشــینونو په واســطه سرته ورسول شــول. او سربیره پردې د تولید د پړاوونو په اړه فکر وشو او دې فکر ته د رسیدلو به موخه په هرځای کې پرله پسې اقتصادي ښوونځي جوړشول چې سوداګریز ښوونځي یې ښه بیلګه ده.

بوســن فان کلبــی (**Busse Von Colbe**) ۱۸۹۸ کال د اقتصادي تصدۍ د زیږیدنې د کال په نوم غوره کړاو همداراز د المان په بیلابیلو سمیو کې عالي سوداګریز ښوونځي اود اقتصادي تصدۍ پوهنځي جوړ کړل.

په افغانستان کې له پخوا څخه تصدیو شتون درلود چې په څرګند ډول د غازی امان الله خان پــه وخت کې د پرمختللو فابریکو رامنځته کیدل یې ښــه بیلګــه ده. د بیلګې په توګه د ګوګړو ، بورې ، سمنټو ، او نورې چې د خلکو د اړتیا وو د پوره کولو په موخه جوړې شوې.

سره له دې چې تصدیو په دې وروستیو کلونو کې د پام وړ پرمختګ وکړ او ځنې توکي د هیواد په دننه کې جوړیدل او ډېرو هیوادوالو هغه مصرفول چې د اقتصاد په پرمختګ کې یې مهم رول لوباوه. خو له بده مرغه په وروســتیو کورنیو جګړو کې ډېرې دولتي او خصوصي تصدۍ له منځه لاړې او زیات زیانونه ورته واوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دویم څپرکي لنډیز

انســانان د خپل پیدایښــت څخه راپدېخوا د سرچینــو له کموالي سره مخامــخ وو او بېلابېلې غوښــتنې به يې کولې، نو په داســې حال کې چې انسانان خپلو موخو ته د رسیدلو ټول وسایل نه لري نو ټولې غوښتنې يې هم نه شي پوره کیدای، خو کولای شو چې د اقتصادي علومو په مطالعې سره او همداراز  اقتصادي اصولوته په کتو سره ترېوې اندازې خپلې اړتیاوې پوره کړي.

پــه دې څپرکــي کې په ټولیزډول اقتصادي مســایل او د اقتصاد د بیلابیلــو څانګو سره د دغو مســایلو اړیکه تربحث او څیړنې لاندې نیســو او سربېره پردې د اقتصادي علومو په اړه د اسلامي علماوو نظریات، د نړې اقتصادي اصول، بنسټیز اصطلاحات او نور ترمطالعې لاندې نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دویم څپرکي پوښتنې

۱-  اقتصاد څه ته وایې واضح یې کړئ ؟

۲- د اقتصاد علم تعریف کړئ ؟

۳- د اقتصاد درې ګوني پرنسیپونه په لنډ ډول بیان کړئ ؟

۴- د اقتصاد علم په مجموعي ډول په څو بخشونو ویشل شوی هریو په لنډ ډول بیان کړئ؟

۵- اقتصادي لاملونه کوم دي هر یو تعریف کړئ؟

۶- اقتصادي توکي یا څیزونه څو ډوله دي هریو په لنډ ډول بیان کړئ ؟

۷- د تصدی اقتصاد یو تعریف چې ستاسو په نظر غوره وي بیان کړئ ؟

۸- د تصدی اقتصاد په اړه د کورن نظر څه دئ ؟

۹- د اقتصاد په اړه د افلاطون نظر څه وه ؟

۱۰- د اقتصاد په اړه د ارسطو نظر څه وه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درېیم څپرکی

# تولید

**ټولیزه موخه:**

د تولید پر اړوندو مسایلو، د تصدۍ فعالیت د محوري عنصر په توګه د تولید د لاملونو پر ترکیب او اړیکو پوهېدل.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې زده کوونکي له لاندې مسایلو سره بلدتیا پیداکوي:

- تولید
- د تولید عناصر
- تولید له یو بدلوونکی لامل سره
- مجموعی تولید
- منځنی تولید
- نهایی تولید

### د تولید مفهوم

تولید د انســانانو د ضرورت وړ جنســونو یا توکو ته وایی چې د طبیعی ، انســاني او سرمایوي لاملونو څخه لاسته راځي.

یوه اقتصادي تصدی لومړی د تولید پورې اړوند ضروي وســایل اخلي او وروســته د تولید لپاره ورڅخه کار اخلي.

د تولیــد پــه اړه د هرې اقتصــادي تصدۍ لومــړني فعالیتونه لکه کاري ډله، د ماشــینونو او وسایلوڅخه کار اخیستل، طبیعي سرچینې او نور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولیــد څیزونه یا توکي هغه مرحلې دي چــې د رامنځته کیدو لپاره یې کار ، سرمایه ، خامو توکو، اونورو ته اړتیا لیدل کیږي او د یوې ځانګړې تکنالوژۍ څخه په ګټې اخیستنې سره یو حاصل رامنځته کیږي

تکنالوژی په حقیقت کې هغه علم دی چې لاملونه په حاصلاتو بدلوی.

تولید په عمومي ډول په دوه ډوله دی:

۱- توکي یا څیزونه ، لکه د یوکور د اړتیا وړشیان ، میز، څوکۍ ، کمپیوټر او نور.

۲- خدمتونه لکه روغتیایی خدمتونه ، ښوونه او روزنه ، مخابرات او نور.

توکي یا څیزونه هم په دوه ډوله ویشل کیږي:

**الف – د سرمایې توکي:** هغه شــیان دي چې د تولید په درشل کې ورڅخه کار اخیستل کیږي او له یوکال وروسته استهلاکیږي.

**ب – مصرفــی توکــي:** هغه شــیان دی چې د عاجلو اړتیــاوو د پوره کولو لپــاره ورڅخه ګټه اخیستل کیږي او ژر له منځه ځي. لکه جامې ، شامپو ، صابون او نور

زورمن (**Saurman**) اقتصادي توکي داسې یو څه بولي چې:

۱ – د اقتصادي واحدونو اړیتاوې له منځه وړي.

۲ – له تخینکي پلوه د اړتیاوو د له منځه وړلو لپاره په کار اچول کیږي.

۳ – د اقتصادي واحدونو په واك کې وي.

۴ – ټولې اړتیاوې ورباندې له منځه نه ځي یعنې د هغو د تیارولو لپاره جنس یا پیسې په کار اچول کیږي.

هغه هوا چې د ماشــینونو د ســړولو لپاره ورڅخه کار اخیســتل کیږي د تخنیکې پلوه اړتیاوې ورباندې پوره کیږي.

په همدې لحاظ توکې د اقتصادي پلوه په بیلابیلو ډولونو رامنځته کیږي.

۱ – یو ډول کار چې په یو شي باندې رامنځته کیږي.

۲ – د یوشي ترمیماتي مقاومت.

۳ – د استعمالو امکانات.

۴ – شکل او دیزاین یې.

۵ – د استعمال وخت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ – هغه ځای چې په هغه کې توکې اخیستل کیږي.

۷ – هغه وخت چې توکي اخیستل کیږي.

۸ – دهغو اشخاصو شمیره چې توکي یې په واك کې وي.

## د تولید تابع

د تولید تابع هغه امکانات او حرفه چې د هغه له امله د تولید لاملونه رامنځته کیږي روښانه کـوي. د تصدي په یوه تولیدي لړی کې کاري قوت ، سرمایه ، معلومات او منجمنت چمتوکیږي او هغـه پـه توکو او خدماتو لکه ، میز ، څوکۍ ، کمپیوټر ، رادیو تلویزیون ، جامې ، خوراکي توکي ، او ښوونیزو خدماتو بدلوي.

د یـوې تصدۍ د تولید په لاملونو کې هغه څه شـامل دي چې تصـدۍ د تولید په لړی کې ورڅخه ګټه اخلي.

**د بېلګــې پــه توګه:** د ډوډۍ پخلو په یو پخلنځي کې کاري قــوت، لومړني توکي (اوړه، خمیره) سرمایه (د ګډولو دستګاه، د ډوډۍ پخلو دستګاه) سره ترتیب شوي چې تولید ورڅخه لاسته راځي.

د تولید په یوه لړۍ کې د تولید لاملونه او میزان د تولید د تابع تولید په واسطه بیانیږي

د تولید یو تابع په ډېرو تولید شوو توکو دلالت کوي. د هر خاص ترکیب لپاره د تولید لاملونه شــتون لري د مثال په توګه: د **Q** تولید د دوه لاملونو څخه په ګټې اخیســتنې سره، کاري قوت (**L**) او سرمایې (**K**) سره سرته رسیږي نو لدی کبله د تولید تابع په لاندې توګه بیانیږي:

$$Q=f(L, K)$$

د تولید تابع، تولیدوونکي ته داســې امکانات برابر وي چې د تولید د بیلابیلو لاملونو ترکیبات په پام کې ونیسي.

پاملرنــه وکړئ چې د تولید هره تابع د یوې تکنالوژۍ په شــتون دلالت کوي دغه تکنالوژي د مختلفولاملونو لارې چارې ښیي.

پــه بل عبارت یولــه بل سره د تولید دلاملونو د څرنګوالي اړیکه بیانوي ، د تکنالوژۍ په تولید کــې بدلون د تابــع د بدلون لامل ګرځي اوتصدي کولای شي د تولیــد د ځرګندو لاملونو څخه ډېر تولیدات بیان کړي.

## د یو متغیر لامل تولید

فرض کړئ تاسو یو لنډ وخت لرئ چې د سرمایې اندازه او کاري قوت سره فرق لري، خو که د سرمایې اندازه ثابته هم وي خو تولید کوونکي کولای شي چې د تولید اندازه تغیر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې جدول ته پام وکړئ او وګورئ چې په درېو لومړیوســتنو کې یې د رامنځته شــوی تولید اندازه ، د سرمائې لس واحدونه ، او د کاري قوت مختلفه اندازه ښيي.

په دې جدول کې ښــکاري هغه وخت چې د ګارګرانو شــمېر صفر وي ، تولید هم ورسره صفر وي ، د ګارګرانو له زیاتوالي سره ، ۸ واحده تولید زیاتیږي او له دې نقطې هاخوا ټول تولیدکمیږي. عــلاوه پردې چې په لومړي سرکې د کارګــرو په زیاتوالي سره هغه منځنۍ سرمایه چې د هغوي په واك کې ده ، کمیږي چې تولید هم ورسره کمیږي.

د مثــال پــه توګه پنځه کارګرانو د تولید په یو خط کې د دوه کارګرانو تولید کړی خو په لســو کارګرانو سره د مسؤولیت حس کمیږي او امکان لري چې تولید هم ورسره کم شي

| نهایی تولید $\frac{\Delta Q}{\Delta L}$ | متوسط تولید $\frac{Q}{L}$ | تولید کل Q | کارگر L | سرمایه K |
|---|---|---|---|---|
| - | - | 0 | 0 | 10 |
| 10 | 10 | 10 | 1 | 10 |
| 20 | 15 | 30 | 2 | 10 |
| 30 | 20 | 60 | 3 | 10 |
| 20 | 20 | 80 | 4 | 10 |
| 15 | 19 | 95 | 5 | 10 |
| 13 | 18 | 108 | 6 | 10 |
| 4 | 16 | 112 | 7 | 10 |
| 0 | 14 | 112 | 8 | 10 |
| -4 | 13 | 108 | 9 | 10 |
| -8 | 10 | 100 | 10 | 10 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې متن په بيانولو او همداراز په يوه تصدۍ کې د توليد د عمليې په پوهيدو سره، مجموعي مفاهيم، وسطي توليد او وروستي توليد په لاندې ډول بيانيږي.

## مجموعي توليد TP

مجموعي توليد عبارت له هغه توليد څخه دی چې د يوې متفاوتې نتيجې يعنې سرمايې او کار څخه لاسته راځي نو ځکه ويلای شو چې مجموعي توليد د کاري قوت تابع دی.

**TP=F (L)**

لکه څرنګه چې په پورتني جدول کې وليدل شـول د زياد کار حجم د سرمايې په زياتوالي کې مهم رول لري.

لکه څرنګه چې په پورته جدول کې وليدل شـول په سرمايې باندې د کار حجم زياتيږي، تردې چې د کار په ۷ واحد کې ، مجموعي توليد ، لوړې کچې يعنې ۱۱۲ واحد ته رسيږي او له هغې نقطې وروسـته يعنې د کار د حجم په زياتوالي يعنې ۸ واحد کې ، کاري قوت له سرمايې نه دی زيات شوی بلکې مساوي دی او وروسته کم شوی دی ، يعنې په ترتيب ۱۱۲ او ۱۶۸ ته رالويدلی.

## منځنی توليد AP

منځنـی توليد د مجموعي کار تناسـب يعنې د سرمايې حاصـل دي، چې د توليد هر واحد په بيلابيلو برخو کې ښيي او د هر کارګر کاري توليد په ګوته کوي.

د کار ګر منځنی توليد، په تصدۍ کې د هغه ونډه معلوموي.

## نهايي توليد MP

وروسـتی توليـد د مجموعي توليد د اندازې له زياتـوالي څخه عبارت دی چې د توليد په لړۍ کې د کاري قوت څخه لاسته راځي.


وروستی توليد په توليد کې د زياتوالي ښکارندوی دی.

**د مثـال په توګـه:** د ثابتې سرمايې په ۱۰ واحدونو کې چې کاري قوت له (۲ –۳ ) زيات شي، کلي توليـد لـه (۳۰ – ۶۰) پورې زياتيږي چې د رامنځته شـو ي توليد زياتوالی له ۳۰ واحدونو سره برابر دی.

د کاري قوت د وروسـتی توليد د لاسته راوړلو لپاره بايد د توليد تغيرات ($\Delta Q$) له کاري قوت ($\Delta L$) سره محاسـبه کړو. خو بايد په ياد ولرو چې دکاري قوت وروسـتي توليد د اسـتفاده شـوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرمايې پورې تړاو لري.  که د سرمايې اندازه له ( ۱۰ – ۲۰ ) واحدو پورې زياته شي په هره اندازه کې د کار ي قوت وروستي توليد ، د کارګرو په هره ټاکل شوی اندازه کې زياتيږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درېیم څپرکي لنډیز

پــه یوه تصدی کې د سرچینــو څېړنه په دې پورې اړه لري چې یو تولیدوونکی له ځینو ځانګو څخه په ګټه اخستنې سره خپل تولیدي موقعیت په دقیقه توګه وټاکي.

یــوه تصدي د تولید لاملونه ترلاســه کــوي اوهغه د کالیواو خدمتونــو د تولید او خرڅلاو لپــاره کاروي.

د هرې تصدۍ بنســټیزفعالیت د کالیو او خدمتونو د تولید په موخه د تولید له لاملونو څخه ګټه ترلاسه کول دي. لکه: د کارنیرو، ماشین آلات او تجهیزات، طبیعي سرچینې او نور.

په بنسټیزه توګه د انسان د فردي او اجتماعي لاسته راوړنو موخه هماغه تولید دی چې توکي او خدمتونه په څنګ کې لري.

لکه څنګه چې پوهېږو کالی په مصرفی او سرمایه وي کالیو ویشــل کیږي. نو لدې کبله تولید، د تولید د لاملونو ترکیب او د تولید تابع توضیح کیږي.

وروســته له یوځانګړی لامل څخه په ګټه اخستوسره د یوه ثابت لامل په وړاندې د مثالونو په وړاندې کولو سره ترڅېړنې لاندې نیول کیږي.

چــې په همدې ډول د تولید دلړۍ د مولدیت په اړه د مجموعي، منځني او وروســتني تولید مفاهیم هم توضیح کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درېیم څپرکي پوښتنې

۱- تولید څه ته وایي؟

۲- په عمومي ډول توکي یا څیزونه په څو ډوله ویشل شوي دي، هر یو په لنډ ډول بیان کړئ؟

۳- د تولید په اړه د زورمن څو نظریات بیان کړئ؟

۴- د تولید تابع کوم شیان دي بیان یې کړئ؟

۵- مجموعي، منځنی او نهایي تولید څه ته وایي بیان یې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شلورم څپرکی

## د تصدي پلان جوړول

**ښوليزه موخه:**

د پلان جوړونې سره بلدتيا او په تصدی کې د هغه اهميت او رول.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې محصلين په لاندې مسايلو پوهيږي:

- د پلان جوړنې په مفهوم او اهميت.
- د پلان جوړونې پړاووونه.
- په تصدي کې پلان جوړونه.
- د توليد په لاملونو کې پلان جوړونه.
- د توليد د عمليو پلان جوړونه.
- د مالي امورو پلان جوړونه.
- د خرڅلاو لپاره پلان جوړونه.

### د پلان جوړونې اهميت او معنا

پلان جوړونه د انسانانو د علمي او اقتصادي وړاندينو څخه عبارت ده.

له پلان جوړونې پرته د يو تجارتي کار پيل کول يو بې معنی او بې موخې کار دی نو لدې کبله بايد ووايو چې پلان جوړونه د فکر او عقل يوه لړۍ ده او د دې پيغام لري چې په يوه تصدي کې له کار وړاندې بايد پلان جوړ شي او يا په بل عبارت پلان يوه دوامداره لړی ده چې ژور فکر ته اړتيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجربو ښــودلې ده چې اوس مهال له يو منظم پلان پرته انسانان خپلو ټاکلو موخواو نتيجو ته نه شي رسيدلای.

نو ويلای شــو چې ټول اقتصادي او توليدي کارونه يــو پلان ته اړتيا لري چې له پلان جوړونې پرته د دغو کارونو سرته رسول ناشونی کار دي

همداډول پلان جوړونه په هرې تصدۍ کې د بې باورۍ او انديښــنو د له منځه وړلو ســبب ګرځي او سربېره پردې په يوه تصدۍ کې اسانتياوې او بريالیتوبونه رامنځته کوي

پلان جوړونه په عمومي ډول په لنډمهاله پلان جوړونې ، ميانه مهاله پلان جوړونې او اوږمهاله پلان جوړونې ويشل شوې ده هره يوه يې ځانګړې موخې لري

له پلان جوړونې پرته هيڅ امکان نه لري چې يوه تصدي خپلې موخې په ښه توګه ترلاسه کړي.

## په تصدۍ کې د پلان جوړونې پړاوونه

د يــوې تصدۍ پــه لومړي پړاو کې په عمومي ډول د تصدۍ دموخــو ثابتول مهم دي چې په دې ډول  په ډېرو موخو لکه په خپله خوښه خرڅول او اخيستل ، د نوو محصولاتو کشف کول او نورو پوهيږو

په نورو پړاوونو کې د پلان جوړونې لومړني ګامونه، ارزيابي کول او د حل په لارو چارو غږيږو.

د ذکر شوو اصولو په پام کې نيولو سره د تصدۍ پلان جوړونې پړاوونه په لاندې ډول دي.

۱- د توليد د لاملونو او ظرفيتونو ثابتول.

۲- د ټوېلوونکو سرچينو ثابتول

۳- د توليد شوو توکو اغيزمنتوب او ثابتول.

۴- د تصدۍ څخه بهر د تخنيکي ظرفيتونو په پام کې نيول.

۵- څرنګه توليد وکړای شو؟

۶- د ظرفتيتونو او سرمايي ثابتول.

۷- په تصدۍ کې د کار او همداراز د کار کوونکو د ژوند شرايط.

۸- د تصدۍ د محصولاتو سره د  محصولاتو د توليد لپاره د اړينو وسايلو مقايسه کول.

۹- د کار لپاره د پاك چاپيريال غوره کول.

۱۰- د تصدۍ د کارکوونکولپاره د تفريح ، ســاعت تيرۍ او همداډول د هغو د ماشومانو لپاره د وړکتون جوړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱- د تصدۍ د کارکوونکو لپاره د اوسیدو د ځای په اړه فکر.

پــه مجموعي ډول یوه تصدۍ نه یواځې خپل تشــکیلات بلکه د نورو هغوتصدیو چې رقابت ورسره لري د هغوی تشکیلات هم ترنظر لاندې نیسي.

منظم پلان جوړول د یوې تصدۍ د مهمو اړخونو څخه شمیرل کیږي چې له دې امله مناسب پلان جوړول د یوې تصدۍ په اداري او رهبرۍ مثبتې اغیزې لري

لکــه څرنګه چې وړاندې وویل شــول یوه تصدۍ د یوپــلان جوړونې ، د تولید د لاملونو ، د مــالي امورو دپلان جوړونې اونورو پورې اړه لري چــې هریوېې په ځانګړي ډول تربحث او څیړنې لاندې نیســو.

**۱- د تولیــد د لاملونــو پلان جوړونه:** د تولید د لاملونو پــلان جوړونه د یوې تصدۍ د ټولو . پلان جوړونو سره مشابه ده.

کله چې د تولید لپاره ټول د ضرورت وړ شــیان برابر شــول نو ژر یې د کارونې فکر کیږي چې څرنګه یې وکاروي او ورڅخه ګټه واخلي چې دغه پلان ته تخنیکي او تطبیقي پلان هم ویل کیږي.

**۲- د تولید د عملیو پلان جوړونه:** تولید عبارت دی له ټولو هغو شــیانو چې ارزښت ولري او خلك ورڅخه ګټه واخلي.

یو تولید کوونکی همیشــه خپل خالص عایدات په پام کې نیســې او خالص عاید د مجموعي ارزښت هغه برخه ده چې په یو تولید کې د لګښتونو له سنجونې وروسته منځته راځي

مجموعي لګښتونه - مجموعي عایدات - خالص عاید

لــه تولیــد وړاندې باید د ټولنې اړتیاوې او اقتصادي تحلیلونه په پام ونیســو او ورباندې فکر وکړو د تولید د پلان جوړونې په برخه کې باید دې ټکي ته پام وکړو چې خپل تولیدات څرنګه په ټولنه کې لګښت کیږي.

او همداراز د تولید په اړه باید د بازار حالت هم په پام کې ونیسو یعني په دې معنی چې دغه تولیدات ترکومې اندازې پورې په کورنیو او بهرنیو بازارونو کې لګښت کیږي او لګښت کوونکي یې څو ك دي چې دغه موضوع په خصوصي تصدیو کې ډېره مطرح کیږي.

نــو لــدې کبله وړاندې له دې چې د تولید کارونــه پیل شي لازمه ده چې د تولید د زخیرو ، او ګودامونو په اړه دقیق او ښه فکر وکړو اولاسته یې راوړو او همداراز کوښښ وکړو چې د اوږدمهاله تولید لګښت په پام کې ونیول شي.

**۱. د مــالي امــورو پلان جوړونه:** د یوې تصدۍ د مالي امــورو پلان جوړونه درې وظیفې سرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسوي او په مجموعي ډول د عوايدو د سيستماتيك تنظيم او د تصدۍ له لګښت څخه عبارت ده.

د تصدۍ د مالي پلان جوړونې مهمې موخې په لاندې ډول دي:

- سياليت
- مصونيت
- مثمريت

**سياليت:** د مالي پلوه د تصدۍ قدرت تمثيلوي ( د تصدۍ سياليت تامين شي )

**مصونيت:** د احتمالي ګواښــونو پروړاندې د تصدۍ د ســاتنې لپاره لازمه ده چې د ذاتي او غير ذاتي سرمايې ترمنځ يو معقول تناسب وساتل شي.

**مثمريت:** په هغه صورت کې چې د تصدي د مالي پلان جوړونې دوه پورته ذکر شــوې دندې عمــلي شي نو درېمه دنده به هم عملي کيږي ، د اضافي ســياليت څخــه مخنيوی د موثر والي لامل ګرځي او د ذاتي او غير ذاتي سرمايې ترمنځ يو معقول تناسب رامنځته کيږي.

**۲. د پلورنــې پلان جوړونــه:** د لنډمهاله او اوږمهاله اهدافو د سرته رســيدو او د پلورنې پلان جوړونــه يــو ضروري امر دی پــه دې معنی چې په لنډ وخت کې د توليــد امکان زيات دی خو د پلورنــې امــکان يې کم وي ، نو لدې کبله تصدي کوښــښ کوي چې پــه اوږده موده کې توليدات خرڅونې ته چمتو کړي او د توليد اوخرڅلاو ترمنځ يو توازن وساتي.

## په يوه تصدۍ کې د لارښوونې او تصميم نيونی د تګلارې پړاوونه

د يــوې پرمختللې اداري په منځ کې د کارونو تقســيمول د يو منيجر د مهمو فعاليتونو څخه حســابيږی لکــه څرنګه چې په يــوه تصدۍ کې تصميم نيول يو مهم اوعمــده رکن ياديږی نو په هغه کې عجله کول د زياتومصارفو درامنځته کيدولامل ګرځي نو په يوه تصدی کې د يو شخص په واسطه په عجلی او ژرژر کارکول د خرابی درامنځته کيدو لامل ګرځي اوبايد د وخت په تيريدوسره په ډېرې حوصلې کار وشي

### غوره تصميم نيول څه ته وايي؟

يو غوره اوښه تصميم هغه دی چې نتيجه يې په زړه پورې او له غوښتنې سره سمه وي.

يو غوره تصميم هغه تصميم دی چې د هغه وروسته د انسان دغوښتنی سره سمه نتيجه لاسته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړي سرکې په یوه غوره تصمیم کې مشکل د یوې غوښتنې په توګه پیژندل کیږي او هغې ته د حل لاره پیداکیږی.


د تصمیم په دویمه مرحله کې مشکلات ټول څیړل کیږي اود حل لپاره یې امکانات په پام کې نیول کیږي

پــه لنډ ډول په دغومرحلوکې چې کومې ســتونزې لیدل کیږي دهغــود حل لپاره باید تصمیم ونیول شي.

باید یادونه وکړو چې دهرې تصدی ټولې ستونزې د حل لاره لري او باید داسې لاره ورته ولټول شي چې دتصدی په کار اوبار کومه اغیزه ونه کړي.

کله چې مشــکلاتو ته دحل لاره پیداشــوه نو د تصمیم نیولوبله مرحله د نتیجو شوولوده چې پــه نتیجه کې کمیت، کیفیت او ظرفیتونه معلومیږي چــې منفي ټکي ورځنې جلاکیږي بالاخره د تصمیم وروستی مرحله د تصمیم عملي کول دي.

د تصمیــم په ټولو مرحلو کې معلومات راټولیږي او وروســته ترتحلیــل او تجزیې لاندې نیول کیږي. د تصمیم نیولو ټول لاملونه یو له بل سره اړیکه لري او په تصمیم نیولو کې له دغو لاملونو پرته تصمیم نه شي نیول کیدلی.




پورته شــکل ته په کتوسره ، د تصدۍ اداره او ارګانونه، د تصدۍ د موخو، ســیالیت، د بیلابیلو ساحو د تنظیمولو په اړه بیلابیل تصمیمونه نیسي.

د تصمیم نیولو کیفیت او معقولیت، تر زیاتې اندازې پورې د ترلاسه شوو معلوماتو د کیفیت او معقولیت پورې اړه لري چې ارزیابي یې په تصمیم نیولو کې یو ضروري امر دی.

سربــیره پر اهلیت، لیاقت، تجربه، شــوونه، رفاقت، حوصله منــدي، د فکر قوت او د تصمیم نیوونکي لید لوری، په تصمیم نیولو کې مهم رول لوبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څلورم څپرکي لنډيز

پلان جوړونه د یوې تصدۍ یومهم اوساسي اصل دي چې باید ژور فکر وربانديږ وشي څکه له پلان څخه پرته د یوې تصدۍ د کارونو او فعالیتونو پرمخ وړل یو ستونزمن کار ګڼل کیږي.

په یوې تصدۍ کې پلان جوړول که هغه تصدی لویه او که کوچنی د بی باورۍ د رامنځته کولو او او اندیښنو د له منځه تللو لامل ګرځی او همداراز یې د سالمی رهبری درامنځته کیدو لامل ګرځي.

پلان جوړول په عمومي ډول په دریو برخو ویشل شوی دی چې د طویلمدت یا لویو پلانو ، متوسط المدت یا منځنیو پلانونو اوهمداراز کوتاه مدت یالنډو پلانونو ویشل شوی دی چې هریویی ځانګړی هدفونه لري او بیلابیلې ځانګې لري

د تولیدی وسایلو پلان جوړونه ، او د مالی امورو پلان جوړونه په اقتصادي تصدی کې له خورا اهمیت څخه برخمن دی نو څکه په لنډډول ویلای شو چې د یوې تصدۍ د کار اصلی د بریالیتوب ټکی یواځې اویواځې دقیق پلان دی چې د تصدۍ د پرمختګ او کامیابی لامل ګرځی

## د څلورم څپرکي پوښتنې

۱- پلان جوړونه تعریف کړئ ؟

۲- پلان جوړول په څوډوله دي ویې لیکئ؟

۳- د یوې تصدې د پلان جوړونې د عملې پلان جوړونې څو مهم ټکې ولیکئ او د مرحلو نومونه یې واخلئ؟

۴- د تولید د لاملونو پلان جوړونه په لنډډول ولیکی؟

۵- د تولید د لاملونو د پلان جوړونې په اړه معلومات ورکړی؟

۶- د مالي امورو پلان جوړول بیان کړئ اومهمې موخې یې بیان کړئ ؟

۷- دمالي پلان جوړونې مهمې موخې بیان کړئ؟

۸- د پلورنې د پلان جوړونې په اړه خپل نظر ولیکئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## د تولیدوونکي د انتخاب نظریه

**ټولیزه موخه:**

د تولید د مطلوبې سطحې له ټاکنې سره بلدتیا او د تولید د اندازې له مخې د تولیدونکي ټاکنه.

**د زده کړې موخې:** په دې څپرکي کې زده کوونکي د اســتخدام، د تولید د مرحلو او لارو چارو، د تولید په اړه د محاسبې او اندازې سره بلدتیا پیدا کوي او په لاندې مسئلو به وپوهیږي:

- خالص عواید او د تولید مناسبه اندازه.
- د تولید له مجموعي عوایدو سره د مصارفو مقایسه
- د اضافی عاید مقایسه
- د تولید پړاوونه او د تولیدکوونکي د ګټې خوندی ساتل
- د نزولي ګټې قانون

### ۱- خالص عایدات او د تولید مناسبه اندازه:

په عمومي ډول یوه تصدی خپل خالص عواید په پام کې نیسی اووروسته دتولید اندازه ټاکي خالــص عاید د مجموعي عاید هغه برخه ده چې د مجموعي لګښــتونو له ارزونې وروســته پاتې شي.

$$TC - TR = NR$$

مجموعي لګښت، مجموعي عاید، خالص عاید

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولیداندازې ته په کتو سره خالص عواید په لاندې دوه طریقو تعین کیږي.

## ۲- د مجموعي عاید سره د مجموعي لګښتونو مقایسه:


مجموعی عاید او مجموعی لګښــتونه په بیلابیل ډول محاســبه کیږي چې ددې مطابق یعنې د تولید مطلوبه کچه y عبارت له هغې پیمانې څخه ده چې خالص عاید ( NR ) لوړې کچې ته رسیدلی وي.

په لاندې جدول کې مجموعي عاید د ( ۲ افغانۍ = py ) او ( ۵ افغانۍ = px ) او مجموعی ثابــت لګښــت (۲۰ افغانۍ = TFC) ښــودل کیږي څکه چــې TR او TC ثابتو قیمتونو ته په کتوسره د تولید په اړیکه محاســبه شــوی نو د ګراف په شکل د هغوی رابطه په لاندی ډول ښــوول کیږي.

د تولید معینه اندازه او د خالص عاید محاسبه.

| لامل تولید X | مقدار تولید y | لګښتونه مجموعی ثابت TFC | لګښتونه مجموعی متحول TVC | لګښتونه مجموعی TC | عاید مجموعی TR | عاید اضافی MR | عاید منحني AR | عاید خالص NR |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0 | 0 | 20 | 0 | 20 | 0 | - | - | -20 |
| 1 | 5 | 20 | 5 | 25 | 10 | 2 | 2 | -15 |
| 2 | 14 | 20 | 10 | 30 | 28 | 2 | 2 | -2 |
| 3 | 21 | 20 | 15 | 35 | 42 | 2 | 2 | 7 |
| 4 | 26 | 20 | 20 | 40 | 52 | 2 | 2 | 12 |
| 5 | 30 | 20 | 35 | 55 | 60 | 2 | 2 | 15 |
| 6 | 33 | 20 | 30 | 50 | 66 | 2 | 2 | 16 |
| 7 | 35 | 20 | 35 | 55 | 70 | 2 | 2 | 15 |
| 8 | 36 | 20 | 40 | 60 | 72 | 2 | 2 | 12 |

(c) ketabton.com: The Digital Library




### ۳- د اضافي عاید (MR) او اضافي لګښت(MC) مقایسه:

د ذکر شوي میتود څخه په ګټه اخیستو سره ، تولید ته دومره پراخوالی ورکولای شو چې د هر تولید شوي واحد، اضافي عاید (MR) د اضافي لګښتونو (MC) سره مساوي وي.

**MR=MC**

اضافي لګښتونه = اضافي عاید

$$\frac{\Delta TR}{\Delta y} = \frac{\Delta TC}{\Delta y}$$

لکــه څرنګــه چې په پورتني جدول کې ولیدل شــول د بازار په سیســتم او په آزاد رقابت کې **MR** (د هرتولیدوونکــي اضــافي عاید) منحنــۍ تقاضا (**Demand curve**) محصول ښــیې چې دا قسمت همیشه وخت مساوي دی له منځني عاید (**AR**) سره او د هر تولیدي واحد قیمت (**Py**)

$$\text{MR}= \frac{\Delta TR}{\Delta y} = AR = D = Py$$

### ۴- د تولید پراوونه او د تولیدوونکي د زیاتې ګټې ساتل:

د متوســط او نهایي تولید څخه به په ګټې اخیستنې سره کولای شو چې په کارګري ګروپ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولید په دریو پړاوونو وپوهیږو.

**لومړی پړاو:** د تولید له پیل څخه حسابیږی او تر هغه وخته پورې چې نهایی تولید له متوسط تولید څخه زیات وي ادامه پیداکوي.

**دویم پړاو:** د متوسط تولید له زیاتې اندازې څخه پیلیږي او د نهایي تولید ت رپای ته رسېدو پورې وي. په دویمه مرحله کې نهایي تولید له متوسط څخه کم وي خو مثبت وي (له ۴کارګر تر ۸کارګرو).

**دریم پړاو:** د نهایي تولید له صفر څخه پیلیږي. (له ۸ کارګرو وروسته )

که کارګران په وړیا ډول کار هم وکړي تولید کوونکی هیڅکله د تولید دریمه مرحله نه انتخابوي په دې خاطر چې د کارګرانو په زیاتوالي سره د تولید اندازه کمیږي

لومړی پړاو د تولید کوونکی لپاره انتخابي پړاو نه دی په دې خاطر چې په دې پړاو کې متوسط تولید همیشه وخت د زیاتوالي په حالت کې دی.

یاپه بل عبارت په دې پړاو کې د تولید اندازه د کارګرو د اندازې څخه زیاته ده

په دې پړاو کې د تولید د لاملونو او قیمت له ثابتولو وروسته د لګښتونو په پرتله د تولیدونکي لاسته راوړنې ډېرې وي نو په دې اساس دغه پړاو نه ټاکي ځکه په دې پړاو کې توقف د تصدۍ په ګټه نه دی او باید د دویمې پړاو خواته حرکت وکړی.

نو ویلای شو چې د تولید لپاره ترټولو غوره پړاو، دویم پړاو دی چې په هغه کې د تولیدونکی ګټه زیاته ده.

همداراز په دې پړاو کې که نهایی تولید کم هم وي خو مثبت وي او د تولید د زیاتوالي لامل ګرځي، خو دا چې تولیدونکی د دویم پړاو کوم ټکی انتخابوي، د کارګرو د استخدام پورې اړه لري.

د کاري ګروپ او ثابت لامل ( سرمایې ) په نظر کې نیولو سره د نهایي او منځني تولید محاسبه.

| نهایي تولید $\frac{\Delta Q}{\Delta L}$ | متوسط تولید $\frac{Q}{L}$ | کل تولید Q | کارګر L | سرمایه v |
|---|---|---|---|---|
| - | - | 0 | 0 | 10 |
| 10 | 10 | 10 | 1 | 10 |
| 20 | 15 | 30 | 2 | 10 |
| 30 | 20 | 60 | 3 | 10 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 10 | 4 | 80 | 20 | 20 |
| 10 | 5 | 95 | 19 | 15 |
| 10 | 6 | 108 | 18 | 13 |
| 10 | 7 | 112 | 16 | 4 |
| 10 | 8 | 112 | 14 | 0 |
| 10 | 9 | 108 | 12 | -4 |
| 10 | 10 | 100 | 10 | -8 |

## ۵- د کمې ګټې قانون

### الف- د نزولی بهرې د قانون مفهوم(کمه ګټه)

تولید، حاصل، او ګټه (**output**) چې د لامل اصطلاح (**input**) په مقابل کې استعمالیږی ، مترادف اقتصادي اصطلاحات دی چې فزیکی مفهوم یې اندازه ده اوجنسونه او خدمات چې د تولید دعملیې یا د تولید دلاملونو څخه لاسته راغلی وي بحث کوي.

د بهره نزولی قانون ( کمې ګټې قانون ) په لاندې ډول بیانیږي:

د دې قانون معنی دا ده چې د هر متغیر عمل ( کاري قوت ) لپاره معینه اندازه شتون لري چې باید د ثابت لامل سره یې ترکیب کړو.

### ب: د کمې ګټې رسم او بیانول


د دې تیورۍ د پلي کولو لپاره دوې لارې شتون لري، لومړی دا چې د تولید دوه لاملونه دي چې یو یې ثابت دی او بل تغیرکونکی دی.

د مثال په توګه: یوه ټوټه ځمکه د ثابت لامل په توګه درکړل شوی او کار هم له هغه تغیرونکي لامل څخه عبارت دی چې په دې ځمکې باندې په پرله پسې ډول اضافه کیږي، لکه څرنګه چې په لاندې جدول کې لیدل کیږي، په ثابت لامل یعنې ځمکه باندې د بدلون موندونکي لامل یعنې کاري قوت د زیاتوالي له امله، مجموعي تولید، وسطي تولید او نهایي تولید تریوې معینې نقطې پورې زیاتیږي او د ګټې له وروستۍ اندازې وروسته بیا په کې کموالی راځي.

په لاندې جدول کې ثابت لامل یعنې ځمکه، بدلون موندونکی لامل، یعنې کاری قوت او د هغه څخه لاسته راغلی مجموعي تولید، وسطي تولید او نهایي تولید په یو ګرافیک شکل کې ګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| خمکه ثابت<br>K لامل | کاري قوت لامل<br>L متحول | مجموعي تولید<br>TP | منځنی تولید<br>$AP=\frac{TP}{L}$ | نهایي تولید<br>$MP=\frac{\Delta TP}{\Delta L}$ |
|---|---|---|---|---|
| 500 | 1 | 1 | 1 | - |
| 500 | 2 | 3 | 1.5 | 2 |
| 500 | 3 | 6 | 2 | 3 |
| 500 | 4 | 10 | 2.5 | 4 |
| 500 | 5 | 15 | 3 | 5 |
| 500 | 6 | 21 | 3.5 | 6 |
| 500 | 7 | 28 | 4 | 7 |
| 500 | 8 | 34 | 4.25 | 6 |
| 500 | 9 | 37 | 4.33 | 5 |
| 500 | 10 | 43 | 4.3 | 4 |
| 500 | 11 | 46 | 4.18 | 3 |
| 500 | 12 | 48 | 4 | 2 |
| 500 | 13 | 49 | 3.8 | 1 |
| 500 | 14 | 48 | 3.4 | -1 |
| 500 | 15 | 45 | 3 | -3 |



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پنځم څپرکي لنډيز

د مالي امورو تنظيم کول، پلورل او پيرودل هغه ستونزې دي چې د متصديانو په ځانګړې ډول د هغو کوچنيو سوداګرو چې د سرمايه ګذارۍ لپاره دقيق پلانونه نه لري.

د توليد لاملونه او د توليد د پړاوونو تعينول هغه موضوعات دي چې متصديان په کې له لاندې لارو چارو کار اخلي:

- خالص عايد او دتوليد د اندازې ټاکل.
- د مجموعي لګښتونو سره د مجموعي عوايدو مقايسه کول.
- داضافي عايدمقايسه کول.

په پای کې د توليد پړاوونه او لاسته راغلی عايد محاسبه يا ارزوو.

په لنډ ډول هغه موضوع ګڼل چې د متصديانو په مخکې پرتې دي د توليد اندازه يا مقدار دی.

پــه دې څپرکي کې د توليد د اندازې دميتودونو ،دتوليــد دپړاوونو، او د توليدوونکي د زياتې ګټې په اړه معلومات وړاندې کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پنځم څپرکي پوښتنې

**۱**- د تولید اندازه په څو ډوله رامنځته کیږي د هر یوه په اړه یې یوه تبصره ولیکئ ؟

۲- د تولید د پړاوونو په اړه معلومات ورکړئ او په ارقامو یې بیان کړئ ؟

۳- تولیدونکي ولی د تولید دویم پړاو انتخابوي په دلایلویی بیان کړئ ؟

۴- د بهره نزولي قانون تعریف کړئ ؟

۵- د بهره نزولي قانون په ارقامو او ګراف واضح کړئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لګښتونه

**ټوليزه موخه:**

د توليد د مطلوبې سطحې له ټاکنې سره بلدتيا او د توليد د اندازې له مخې د توليدونکي ټاکنه.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې زده کوونکي له لاندې مطلبونو سره بلدتيا پيدا کوي.

- لګښتونه.
- مجموعي توليد ته په کتلوسره د لګښتونو څېړل.
  - الف – ثابت مجموعي لګښتونه.
  - ب – تغيرکوونکي مجموعي لګښتونه.
- د توليد يوه واحد ته په کتلو سره د لګښتونو څېړل.
  - الف – ثابت منځني لګښتونه.
  - ب – تغيرکوونکي منځني لګښتونه.
  - ج – مجموعي منځني لګښتونه.
  - د – نهايي لګښتونه.

## لګښتونه

په دې برخه کې د توليد اندازې ته په کتوسره په لګښت ځان پوهوو او اصلي موخه مو د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

میتود او لاروچارو څخه ده چې د هغه پربنسټ د تولید اندازه معلومیږی

الماني ګوتمبرګ لګښــتونه داســې تعریف کړي (لګښت د تولید له هغو لاملونه څخه عبارت دی چې استهلاکي شکل ولري او همداراز د توکو یا جنسونو څخه د کار اخیستلو وروسته لاسته راځي او د پیسو په واسطه څیړل کیږي).

دغه لګښتونه په مستقیم او غیرمستقیم ډول ویشل کیږي چې مستقیم لګښت لکه کاری توکي او هغه اضافی لګښتونه چې د تولید په لړي کې ورڅخه کاراخیستل کیږي.

همداراز د اقتصادي فعالیتونو څیړل او څیړنې ته په کتوسره فرصتی لګښتونه داسې تعریف کوو:

## د له لاسه وتلو فرصتونو لګښتونه

هغه اقدام یا عمل دی چې څوک وکولای شي کنترول یې کړي خو وخت ورڅخه تیرشوی وي

په بل عبارت د یو محصول فرصتي لګښــتونه د هغو لاســه وتلو محصولاتو له ارزښــت څخه عبارت دی چې د سرچینو د تولید د اندازې څخه ترلاسه کیدای شي

د بیلګې په توګه: د تصدی په یوه کارخانه کې دوه ډوله رختونه هم مردانه اوښځینه تولیدیږي چې د دواړو رختونو د پیســو لګښتونه سره مســاوي وي نو دلته تصدی پریکړه وکړی چې په یوه دستګاه کې هم مردانه اوهم ښځینه لباس تولید کړي. په دی صورت کې د مردانه لباس لګښت د ښځینه لباس د مجموعي لګښت څخه عبارت دی.

او که چیری د دواړو رختونو پولي لګښــت فرق ولري په دی وخت کې د مردانه لباس فرصتی لګښت د ښځینه لباس د ارزښت دخالص محصول څخه عبارت دی.

د محصولاتو د فرصتي لګښتونه پربنسټ د یوه محصول انتخابول هغه وخت په زړه پورې وي چې فرصتي لګښتونه یې د تولید په ټولو برخو کې د محصول ارزښت ته په کتوسره مساوي وي.

## د تولید د اندازی تعینول او د مستقیم لګښت څیړل

مســتقیم لګښــت ته په کتوسره د تولید تعین اواندازه ثابتیږی او مستقیم لګښتونه په لاندې دوه شکلونو څیړل او څیړو.

۱- د مجموعی تولید له پلوه د لګښتونو څیړل

۲- د تولید د یوه واحد له پلوه د لګښتونو څیړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په مجموعی ډول د لګښتونو بیانول

**الف-** ثابت مجموعي لګښــتونه **Total Fixed Cost** د تولید د هغه مســتقیم لګښــت څخه عبــارت دی چــې د تولید د ثابتو لاملونو د ټاکنې څخه لاســته راځي لکه مالیه، د ځمکې اجاره ، د تعمیر کرایه ، د ماشینونو استهلاک او نور

## متحول مجموعي لګښتونه Total variable cost


د مجموعي لګښــتونو له هغې برخې څخه عبارت دی چې د تولید دلاملونوله اخیستلو څخه لاســته راځي او د تولید د اندازې سره بدلون وومومي. د بیلګې په ډول هرکله چې د تولید اندازه د صفر سره مســاوي وي په دې صورت کې متحول لګښــتونه نه معلومیږي خو کله چې د تصدۍ د تولید فعالیتونه پیل شي متحول لګښتونه هم معلومیږي

بناء په دې ډول ویلی شــو چې د مستقیمو لګښــتونو او د تولید د اندازې ترمنځ اړیکه شتون لري په دې معنی چې د تولید د اندازې له زیاتوالي سره بدلون موندونکي لګښتونه هم زیاتیږي.


بدلون موندونکي لګښتونه په خطي او غیرخطي ډول هم شتون لري لکه غوړیو، پطرولو ګاز، انرژی د برق اونورو تولیدی توکو لګښتونه.

سربېره پردغو دوه ډوله لګښتونو، کولای شو چې لګښتونه په لاندې ډول وویشو:

ثابت متوسط لګښتونه، منځني متغیر لګښتونه، منځني، مجموعي او نهایي لګښتونه.



(c) ketabton.com: The Digital Library




### ۱- ثابت منځني لګښتونه AFC


ثابت منځني لګښــتونه، د ثابتو لګښــتونو او د تولید د اندازې ترمنځ تناسب رامنځته کوي. یا په بل عبارت هرکله چې ثابت لګښــتونه د تولید په اندازې وویشــل شي ، ثابت منځني لګښــتونه یعنی AFC لاسته راځي.

پــه هر تولیدي واحد کې د ثابتو منځني لګښــتونو اندازه کمیږي یعنــې هرڅومره چې تولید زیاتیږي دغه لګښتونه کمیږي.

$$AFC=\frac{TFC}{Q}$$

خو کله چې د تصدۍ د تولید ظرفیت زیاتیږی او په هغه کې ثابت لګښتونه هم زیاتیږي، نو په دې صورت کې منځني ثابت لګښتونه هم ډېریږي او نزولي لاره غوره کوي.


(c) ketabton.com: The Digital Library




**۲- بدلون موندونکي منځني لګښتونه AVC**

بدلون موندونکي وسطي لګښتونه عبارت له هغو لګښتونو څخه دي چې د هر تولید په واسطه محاســبه کیږي یا په بل عبارت هرکله چې بدلون موندونکي لګښــتونه ، د تولید په اندازې تقسیم کړو ، وسطي لګښتونه لاسته راځي.

$$AVC=\frac{VC}{Q}$$




(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۳- مجموعي منځني لګښتونه ATC

مجموعی منځني لګښتونه له هغو ثابتو او بدلون موندونکو مجموعي لګښتونو څخه عبارت دي چې د هر توليدي واحد په بنسټ محاسبه کيږي. يا په بل عبارت هرکله چې مجموعي لګښتونه ( متغير او ثابت لګښتونه ) د توليد په اندازې تقسيم کړو ، مجموعي منځني لګښتونه لاسته راځي.

$$ATC=\frac{TC}{Q}$$




### ۴- وروستي لګښتونه MC

له هغو لګښتونو څخه عبارت دي چې د توليد د يو اضافي واحد له امله منځته راشي

په لاندې جدول کې چې ثابت مجموعي لګښتونه او بدلون موندونکي لګښتونه دي ، کولای شو چې وروستي لګښتونه محاسبه کړو او ګراف يې رسم کړو.

$$\frac{\Delta TC}{\Delta Q}$$

د بيلابيلو واحدو په واسطه د لګښتونو محاسبه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| تولید اندازه Q | ثابت لګښتونه FC | متغیر لګښتونه VC | مجموعی لګښتونه TC=FC+VC | نهایي لګښتونه $MC=\frac{Da}{DLC}$ | مجموعي منځني لګښتونه $\frac{TC}{Q}$ | ثابت منځني لګښتونه $\frac{AFC}{Q}$ | متغیر منځني لګښتونه $\frac{VC}{Q}$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0 | 256 | 0 | 256 | 0 | - | - | 0 |
| 1 | 256 | 64 | 320 | 64 | 320 | 256 | 64 |
| 2 | 256 | 85 | 340 | 20 | 170 | 128 | 42 |
| 3 | 256 | 99 | 355 | 15 | 118.3 | 85.3 | 33 |
| 4 | 256 | 112 | 368 | 13 | 92 | 46 | 28 |
| 5 | 256 | 125 | 381 | 13 | 76.2 | 51.2 | 25 |
| 6 | 256 | 144 | 400 | 19 | 66.6 | 42.7 | 24 |
| 7 | 256 | 175 | 431 | 31 | 61.5 | 36.6 | 25 |
| 8 | 256 | 224 | 480 | 49 | 60 | 32 | 28 |
| 9 | 256 | 297 | 553 | 73 | 61.4 | 28.4 | 33 |
| 10 | 256 | 400 | 656 | 103 | 63.6 | 25.6 | 40 |

ثابـت منځني لګښــتونه (AFC)، بدلیدونکي لګښــتونه (AVC) آخرني لګښــتونه (MC)او مجموعی منځني لګښــتونه (ATC) مو په پورته جدول کې ولیدل ، داچې په ثابته لګښــتونو کې دتولید د زیاتوالي له امله بدلون نه مومي او ثابت منځني لګښــتونه AFC دتولید په اندازه باندې دثابتو لګښــتونو د ویشلو له امله لاسته راځي نوله دې امله وسطي لګښتونه د تولید د زیاتوالی له امله کمیږي.

لکه څرنګه چې په پورته جدول کې ولیدل شــول په هغه وخت کې چې د تصدۍ تولیدات د ۴- ۵ واحدو په اندازه وي ، وروستي لګښتونه کم وي

منحنی لګښــتونه وروستي منحنی لګښــتونه منځني او منحني مجموعی په هغه صورت کې چې تولیدات اته واحدونوته ورسیږي قطع کیږي .

همدارنګــه یاد منحني یا MC په متحولو منځني لګښــتونوAVC په ټیټه نقطه یعني د P په نقطه کې ۶ واحد قطعه کوي چې د منځني لګښتونو له پلوه بدلیدونکي نطقه یادیږي.

د یادونې وړده چې د ټولو لګښتونو منحني وخت یعنې لنډمهاله، منځ مهاله او اوږدمهاله وي.

د مثال په توګه. په یو کوتاه وخت کې د تصدۍ ثابت لګښتونه همیشه زیات وي ځکه تولیدي


(c) ketabton.com: The Digital Library

دســتګاګاني نشي کولای په لنډوخت کې تولید ته چمتووي حال داچې یادا دســتګاه باید څلورمه حصه د سرمایې ، مزد ، د مامورینو او د تصدۍ د کارګرانو تنخوا باید ورکړي.

لــه بلــې خوا کله چې تصدۍ په تولیداتو پیل وکړي نــو بناء په میانه وخت کې د تولید اندازه زیاتیږي له همدې امله متغیر لګښتونه زیاتیږي.

په اوږد وخت کې تصدي کولای شي په تولید کې بیلابیل ظرفیتونه رامنځته کړي نو همدا وجه ده چې په اوږد مهال کې ثابت لګښتونه د کموالی خواته ځي.

مثال: که د تصدۍ د جنسونو او خدماتو غوښتنه زیاته وي نو په دې صورت کې تصدي خپل اصــلي تولیدات زیاتوي او که برعکس وي نو تصدي تولیدات کموي او نور اجنســاس چې په بازار کې ورته لیوالتیا زیاته وي تولیدوي چې په دې صورت کې د ثابتو لګښتونو یوه برخه کمیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شپږم څپرکي لنډیز

د تولید لپاره د بنسټیز عنصر لګښت یوه لاسته راوړنه ده.

هم اقتصادي فعالیت له یوې خوا لګښت ایجابوي اوله هغه څخه دحاصل توقع کیږي.

ځکه چې لګښـــت په مســـتقیمه توګه دمتصـــدي مفاد تراغیزی لانــدې راولي. په هغه صورت کې چې په یوه تصدۍ کښـــې لګښـــتونه په دقیقه توګه محاســـبه اوپه نظرکې ونیول شي او داضافي لګښتونو څخه مخنیوی وشي، نوبیله شکه دتصدي ګټه زیاتوالی مومي. اوهمدارنګه برعکس. پدې څپرکي کې مجموعي لګښـــتونه اودیوه واحد له مخې لګښـــتونه دارقامو او ګرافونوپه ښـــوولوسره تولید ترڅیړنې لاندې نیول شــوی دی. هیله کیږي محصلین له موضوع څخه رغنده ګټه واخلی او دهغه اهمیت وپیژني.

اونوموړي اساسات دکارپه برخه کې عملي اوتطبیق کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شپږم څپرکي پوښتنې

۱- د لګښتونو په اړه څه پوهیږئ توضیح یې کړئ؟

۲- ګوتنبرګ مصارف څرنګه تعریف کړي دي؟

۳- مستقیم اوغیرمستقیم لګښتونه توضیح کړئ؟

۴- دفرصتی لګښتونو په اړه څه پوهیږئ، سره له مثاله یې توضیح کړئ؟

۵- دلګښتونوله مخې دتولید مطلوبه سطحه په څوډوله ټاکل کیږي صرف نوم یې واخلئ؟

۶- مجموعي مصارف په څوډوله دي هریو توضیح ګړئ؟

۷- دتولید دفي واحد له مخې لګښتونه څه ډول دي؟

۸- منځني ثابت لګښتونه، متغیر، مجموعي او وروستني لګښتونه تعریف کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوم څپرکی

## د تولید د لاملونو بازارونه

**تولیزه موخه:**

له بازارونو سره د بازار په نقش او رول، د تصدۍ په فعالیتونو او د بازار په اغیزو پوهېدل.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې زده کوونکي له لاندې مطلبونو سره بلدتیا پیدا کوي.

- د تولید د لاملونو بازار پېژندل.
- د تولید لاملونه.
- د کار وسایل.
- د کار برخې.
- کار.
- د کار بازار.
- د کار د بازار ځینې خاصیتونه.
- د ځمکې بازار.
- د سرمایې بازار.
- د تولید د لاملونو عرضه کول.
- د تولید د لاملونو تقاضا.
- مزد او د هغه ډولونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تولید د لاملونو بازارونه

لکــه څرنگه چې پوهیږئ کورنی د تصدی لګښــت ته کوم اهمیــت نه ورکوی بلکې د تصدی تولیداتو ته پام کوي چې د تولید کیفیت حنگه دی خو گورو چې کورنۍ څنگه تولید شــوي شــیان اخلي اولاسته یې راوړي.

کورنۍ هم لکه اقتصادي تصدی لاملونه په واک کې لري چې د دغو لاملونو څخه په استفادی سره بازارته تغیر ورکوي او خپل د ضرورت وړ شیان ترلاسه کوي چې دغه بازارونه د تولید د لاملونو د بازار په نوم یادیزي.

لاملونه او د تولید سرچینې هغو مجموعي امکاناتو ، وســایلو او انسانی کاری گروپونو ته ویل کیــږي چې د توکــو او خدماتو په تولید کې مهم رول لوبوي اوهمــداراز د محدودیتونو، بدلونونو اوترکیب خاصیتونه لري.

په معمولي توگه دغه لاملونه د ټولنې له هغو  لاســته راوړنو له ډلې څخه دي چې د مزدورۍ له امله ، اجارې او سود او یا نورو لارو څخه یې گټلې وي.

لــه بلې خــوا د یادو لاملونو خاوندان د عرضه کوونکو په توگــه د تولید هغه لاملونه دي چې د تقاضــا کوونکو سره اړیکه لــري او د توکو او خدماتو تولیدوونکې تصدي د تولید د لاملونو بازار رامنځته کوي.

نو لدې کبله کورنۍ یا د تولید د لاملونو خاوندان  د ذکر شوو لاملونو د عرضه کوونکو په توگه او د توکو او خدماتو د تولیدونکو  تصدیو خاوندان د تقاضا کوونکو په توگه د تولید د لاملونو بازار رامنځته کوي او د توکو اندازه او قیمت تاکي.

هرڅــوک امــکان لري چې د لاملونو د تولید په څو بازارونو کــې شریک وی او بیلابیل لاملونه بازار ته  وړاندی کړي د  بیلگی په توگه:  یو کس چې په یوه رســمي دفتر کې ټوله ورځ کار کوي او تنخــوا اخــلي امکان لري چې په بل خای کې هم ســهم ولري او گټه  لاســته راوړي او یا په یو بانک کې حساب ولري او د هغه څخه گټه لاسته راوړي او همداراز یو څه یې په اجاره ورکړي او میاشتني او کلني عایدات ترلاسه کړي.

په هرصورت د دې کس عایدات عبارت له هغو عایداتو څخه دي چې د بیلابیلو لارو یې ترلاسه کړي وي او همدارازیې په بیلابیلو بازارونو کې د کار ، سرمایې او ځمکی له لارې گټلی وي

د اقتصــادي پلــوه دغه کس په بیلابیلو بازارونو کې د تولیــد په لاملونو کې شریک دی او گټه ترلاسه کوي نو همدا دلیلونه دي چې د تولید د لاملونو عرضه کوونکې کورنۍ بلل کیږي او یو کس کولای شي په خو بازارونو کې د تولید څو لاملونه وراندې کړي.

مخکې  لدې چې د لاملونو د بازار په اړه خبرې وکړو د تولید د لاملونو په اړه معلومات وړاندې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تولید لاملونه

د تولید لاملونه په اقتصادي علومو کې مهم رول لري او د څیړنې وړدي د تولید لاملونه د تولید سره مستقیم تړاو لري چې تولید د ژوند مهمه برخه ده نو له همدی امله د تولید لاملونه په لاندی ډول ترمطالعې او څیړنې لاندې نیسو:

د تولیــد لاملونــه د هغو توکــو څخه عبارت دی چې د هغه په واســطه په یو ځانګړي وخت کې یو تولیدي سیســتم ته داخلیږو پدې معنی چې د تولید لاملونه هغه متاع ده چې د تولید د رامنځته کیدو په برخه کې ورڅخه کار اخیستل کیږی

د تولید لاملونه د ملی اقتصاد او د اقتصادي تصدي له پلوه یو له بل سره فرق لري لکه چې د مــلي اقتصــاد له نظره ځمکه ، کار ، سرمایه او منجمنت د تولید لاملونه دي خو د اقتصادي تصدی له پلوه د تولید لاملونه په لاندې برخو ویشل شوی دي:

۱- ارشادی لاملونه.

۲- بنسټیز لاملونه.

۳- اضافي لاملونه.

ارشــادی لاملونه مدیریت ، پلان جوړونه او په ســازماندهي کنترولوي په داسې حال کې چې بنسټیز لاملونه د کار توکي، د کار ګروپونه اود کا ر د وسایلو څخه عبارت دي.

د تولید اضافي لاملونه د دولت فعالیتونه ، بیمه مؤسسې ، د ټولنو فعالیتونه او نور دي.

نو لکه څرنګه چې د اقتصادي تصدی له پلوه د تولید لاملونه ترڅیړنې لاندې نیســو نوله دې امله د تولید د لاملونو دری ګروپونه تربحث لاندې نیسو:

لکــه څرنګه چې مو مخکې وویل بنســټیز لاملونه لکه: کاري ګروپونــه ، د کار توکي اود کار وســایل دي نوځکه دغه لاملونه د اقتصادي تصدی له نظره ترزیاتی څیړنی لاندی نیسو او له بلې خــوا دغه لاملونه د تولید د کمیت او کیفیت سره مســتقیم تړاو لري په دې معنی چې که تصدی دغه لاملونه په کم قیمت ترلاسه کړی نو زیاته ګټه ترلاسه کوي

## د کار وسیلې

په تصدی کې د کار وســیلې د تولید بنســټیز محور دی چې د تولید په لړي کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي لکه ماشینونه ، ترانسپورتی وسایل اونور.

د وسیلو څخه ښه ګټه اخیستنه د ډېرو لګښتونو مخه نیسی او په تولید شي اغیزې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کار توکي

د کار توکي عبارت له هغو توکو څخه دی چې د تولید په لړي کې ترې کار اخیستل کیږي او په لاندې ډول دي

١- خام توکي

٢- معاونه توکي

٣- محرکه توکي

**خام توکي:** خام توکي له هغو توکو څخه دي چې د تولید بنسټیزه برخه جوړوي او په مستقیم ډول په تولید کې ورڅخه ګټه کیږي

**مرســتندویه توکي:** عبارت لــه هغو توکو څخه دي چې د تولید پــه حاصلاتو کې ورڅخه کار اخیســتل کیږي خو د تولید بنســټیز قسمت نه جوړوي او همداراز د قیمت او اندازې له پلوه یې پــه تولیداتو کې اهمیت کم وي او په غیر مســتقیم ډول په تولیداتو کې کارول کیږي د بیلګی په توګه: د یوی نساجۍ رنګ ، د ترکاڼی د محصولاتو رنګ اونور.

**محرکه توکي:** د تولید لپاره لازمي دي خو د تولید په محصول کې په مستقیم ډول ورڅخه کار نه اخیســتل کیږي د بیلګی په توګه د ډېرو ســکاره چې په تولید کې ضروري دي ، دیزل ، پطرول ، ګریس چې د ماشینونو لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کیږي اونور.

**کار:** کار د انســان لــه هغه دماغــی او فزیکي فعالیت څخه عبارت دی چې د یو ارزښــت د رامنځته کولو ، د ضرورتونو د له منځه وړلو او د عایداتو د ترلاسه کولو لپاره ترسره کیږي

هغــه قیمت چې د کار په بدل کې ترلاســه کیږي مزد ورتــه ویل کیږي چې په دی څپرکي کې به وروباندې خبرې وکړو

**١- د کار بــازار:** د کار بازار د تولید په لاملونو کې یو له مهمو بازارونو څخه شــمیرل کیږي او زیات اهمیت لري

پــه دې بازار کې د یوعــام بازار پرمفاهیمو سربیره ، تولنیز ، سیاســی او اقتصادي لاملونه هم ډېــرې اغیــزې او اهمیت لري ، په لنډ ډول ویلای شــو بیکاري ، د سرمایې څخه اســتفاده نه کول هیڅکله ټولنیزې ، اقتصادي او ســیاسي اړتیاوې نه شي پوره کولای ځکه دکاري ګروپونو لپاره د کار نه شتون منفي پایلې لري او په ټولنه کې ستونزې رامنځته کولای شي

په هره ټولنه کې د تولید مهمې سرچینې د کاري ګروپونو کمیت او کیفیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په ناخالص تولید کې د تولید د لاملونو ســهم ته وګورو په ډېرو هیوادونو کې داســې لیدل کیږي چې په ناخالص تولید کې کاري قوتونه ډېره فیصدي او برخه لري بې له شک او ګومان څخه هغه څه چې نړیوال اقتصاد یې مخکې له مخکې ځانګړی کوي اوورته اهمیت ورکوي د کار ملي او نړیوال بازار دی چې هره ورځ په کې بدلون راځي

دا مهــال د نړۍ هیوادونه کوښــښ کوي ترڅو د یوه نظــام په جوړولو سره خپلو خلکو ته کار پیداکــړي او پــه بیلابیلو دندو یې وګماري. په حقیقت کې د یوهیواد ټول وګړي هغه وخت کولای شي چــې پرمختګ وکړي ترڅو پرمختللې تکنالوژي ته لاس رســی پیداکړي او د مســلکي زده کړو څخه برخمن شي.

کاري ګروپونه د تولید د لاملونو مهم او اصلي لاملونه دي چې په زیاته اندازه د تولید د لاملونو محدودیتونه او منفی نقطې له منځه وړي او د تولید په زیاتوالي کې ډېره مرسته کولای شي.

پــه بــل عبارت کاری ګروپونه د کارګرو په فزیکي فعالیت نــه خلاصیږي ځکه هرکارګر ته الله تعالی ځانګړی فکر او عقل ورکړی چې د دغه فکر او عقل څخه په ګټې اخیستنې سره په بیلابیلو ځانګو کې د کارکولو وړتیالري.

## د کار د بازار ځینې خاصیتونه

لکــه څرنګــه چــې کاری ګروپونه د تولید مهــم او اغیزمن لاملونــه دي اود کار په بازار کې د محصولاتو په څیر عرضه اوتقاضا لري نو باید په دې وپوهیږو چې د کار بازار لکه د غنموبازار ، د فولادو بازار ، اونور دي چې لاندې ځانګړتیاوې لري:

**۱- د کار د بازار اصطلاح:** په واقعت کې کولای شــو چې د کار ډول ډول په زرګونو بازارونه لاســته راوړو دغه بازارونه د کاري مهارتونو له پلوه له ســاده کارو څخه لکه په رستورانتونوکی کار کول ترلویوکارونو لکه جراحي اونورو پورې دي چې د کار لوی او پراخه کارونه ورته ویل کیږي

په همدې ډول له جغرافیایي پلوه د کارګرانو لپاره محلي بازارونه ، د پوهنتون د استادانو لپاره ملي بازارونه او د ډاکترانو او انجینرانو لپاره له نړیوالو بازارونو یادونه وکړو.

۱- د بــازار د محصولاتــو پرخلاف، لومړنې توکي لکه غنم، وریجــې او نور چې د خرڅولو لپاره ځانګړي ځایونه لري او د بدلون وړ دي او له بله پلوه دغه خوراکي توکي یو له بل سره تړاو لري

د کار د خاوندانــو دغه تولید شــوي توکي که څه هم فرق لري خــو د کار د خاوندانو لپاره د ارزښت وړدي. اوپه هرډول د تولید امکان لري.

۲- د کا راو محصولاتو د بازار بل فرق دا دی چې د کار په بازار کې کار ګران ســتنډرد نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د محصولاتو په بازار کې کار ګران ســتندرد دي او توکي ســتندرد  تولیده وي او د توکو لپاره امکان لري چې ډول ډول طبقې جوړې شي دغه توکي د فزیکي خاصیتونو له پلوه یوشان دي کله چې تصدی تصمیم ونیسي دغه مسلکي کسان انتخاب کړي اوداسې کسان انتخاب کړي چې هرکار ګر ځانګړي کسبونه او خاصیتونه ولري

کارګران د عمر ، جنس ، نژاد ، د بدني اســتعداد ، قوت ، او نورو خاصیتونو له امله زیات فرق لري او د دوی بیلابیل خاصیتونه د دې لامل شوي چې په تولیداتو کې بیلابیلې دندې ترسره کړي

سربیره پردې د کارګرانو ترمنځ نور فرق هم شته د بیلګې په توګه زده کړې ، تجربه ، تخصص اونور چې د دې تفاوتونو له امله د دوی دندې هم فرق لري

په لنډ ډول په ژوند کې د انســانانو ټول خاصیتونه او ځانګړتیاوو ته انســاني سرمایه ویل کیږي چې د فزیکي سرمایې په وړاندې یې کاروي

۳- د کسبونو ترمنځ اړیکه: د کسبونو ترمنځ اړیکه د کار د بازار یو  بل خاصیت دی که مو پام کړی وي د اخیستلو او پلورلو نرخونه د هرې ورځې ترمنځ فرق لري او تړاو لري

اویا هغه څه چې نن تولیدوونکي او یا لګښــت کوونکي اخلي د نن ورځې خرید له پرون سره تړاو نه لري په داسې حال کې د کار په بازار کې دغه مقوله وجود نه لري

خو په محصولاتو یا تصدۍ کې هره ورځ د کارګرانو فعالیت څیړل کیږي او تصمیم نیول کیږي او د نن ورځې کار له تیرې ورځې سره پرتله کیږي.

کارګر په تصدۍ کې خپل کسب ته په کتوسره کار اخلي او خپله تجربه کاروي لدې کبله تصدي د خپل مهارت د زیاتوالي لپاره سرمایه ګذاري کوي.

په هرصورت هغه څه چې د کار په بازر کې د توکو به خرید او فرو ش کې مطرح دي په هغه کــې کارګــر خپل کار ته حاضریږي او پوهیږو چې د  محصولاتــو په بازارکې توکي د ځانګړي ژوند سره نیغه اړیکه لري

۴- د هغه څه پرخلاف کوم چې د کالیو په پیر او پلور کې مطرح دي د کار په بازارکې کارګرله خپل کار سره شــتون لري. پوهیږو د کالیو د محصولاتو په بازارکې په ځاني ژوند باندې مســتقیمه اغیزه نلري. پداسې حال کې چې دکارپه بازارکې کارګرباید په فزیکي ډول دکارله نیروسره حاضروي. پدې ماناچې کارګرپه هغه کې خپل کار سرته رسوي دکارپه بازارکې له مهمو لاملونو څخه دی. دا حالــت یــا فزیکي دی لکه:  د کار د چاپیریال ګرمي او یخني، غالمغان، ګرد او دوړې د حادثو اوپ یښــو رامنځته کیدل او د کار په وخت کې په ماشــین آلاتو سره زخمی کیدل. یا اجتماعي دی لکه: د کار طریقه او په نظارت کې دقت او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د چانـــې وهلو په قدرت کې د کارګر ضعیـــف حالت هم د کار د بازار له ځانګړتیاوو څخه شـــمیرل کیږي چې له نورو بازارونو څخه یې ځانګړی کوي، معمولاً ډېر کارګران د شـــغل په پلټنه کښـــې وي خو د هغوی د اشـــتغال لپاره خالي ځایونه کافي ندي هغه کارګرچې محدود امکانات په واک کې لري د هغه کارپه لټه کې وي چې څومره زرورته لاس رســـی پیداشي. پداســـې حال کښې چی کاربښـــوونکی کولای شي منتظر پاتې شي او د ډېرو داوطلبانو له منځه کوم چې د شـــغل پلټنه کوي مناسب انتخاب ترسره کړي.

نو لدی کبله ویلای شـــو چې کاربښـــوونکی د اشتغال د وضعیت په تنظیم کې قوي موضع لري. کله چې اتحادیه شتون ونلري چانی وهل هم سرته نه رسیږی.

د مزدونو مجموعه او د اشتغال د مزد وضیعت کاربښوونکی ټاکي او کارګر کولای شي هغه قبول کړي او یا یې قبول نکړي اوکارته حاضر نشي.

د کارګـــر د بیـــکاری قبولولو توانایي کار لپاره د تقاضـــا په میزان پورې تړلې ده. ځکه په خاصه توګـــه د کارګـــر لخوا تقاضا کولای شي د خرڅلاو د ځنډپه دلیل پـــه شرکت یا صنعت کې په خاصه توګه ټیټوالی رامنځته شي.

**۲- د ځمکې بازار:** د ځمکې چې کله ناکله طبیعی سرچینو ، خاورې ، اوبو اونوروته ویل کیږي د تولید مهمې او بنسټیزی سرچینې بلل کیږي

د تولید د دغو لاملونه عرضه کول په لنډ وخت کې ثابتیږی.

په هره مالي دوره کې د یوې قعطې ځمکې قیمت ترکومه ځایه چې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي او د یو ټاکل شوي قیمت په وړاندې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي ورته اجاره ویل کیږي.

**۳ – د سرمایـــې بازار:** د توکو سرمایه هغه لاملونه ویل کیږي چې د دوه اصلي لاملونو یعنې د کاري ګروپونـــو دهلـــو ځلو په ترخ کې او همداراز د ځمکې د حاصلاتو د ذخیره کولو څخه د وخت په تیریدو سره لاســـته راغلې وي او په معمولي ډول هغه د تولید د لاملونو دوامداره توکـــوتـــهویـــلکیـــږي.

د سرمایـــې تـــوکي په عمومي ډول په درې کتګوریو ودانۍ ( ســـاختمانونه ، اونورې لوړپوړیزه ودانۍ ) وسایل او د ګدام ځیزونه ( تولید شوي توکي او لومړني موجود توکي )ویشل کیږي

سربیره له پورته تعریفونو د سرمایې پخواني تعریفونه هم شته د بیلګې په توګه مالي دارایي او د یوڅه ارزښت ته هم ویل کیږي.


په لنډ ډول هرهغه لاملونه چې د نرخونو د لوړوالي سبب شي نوپه دې وخت کې سرمایه داران نه غواړي چې ډېره قرضه واخلي او که نرخونه ښـــکته شي د تصدیو سرمایه داران غواړي چې ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرمایه لګښت کړي او زیات ځیزونه واخلي.

## د تولید د لاملونو عرضه کول

د تولید د لاملونو عرضه کول د تولید په ډولو پورې ډېر تړلي دي خو اصلي او بنسټیز قاعده یې داده چې د تولید لاملونه (له ځانګړو وختونو پرته) له کینې څخه ښی خواته عرضه کیږي.




پــه بازار کې په بیلابیلو قیمتونــو اوهمداراز د بیلابیلو توکو د عرضه کوونکو ترمخې د یوتوکي عرضه کولوته مجموعي عرضه ویل کیږي.

په بل عبارت که چیرې وغواړو د تولید یو لامل د بیلګې په توګه ، کرنیزه ځمکه ترڅیړنې لاندې ونیســو د دغه مجموعي عرضه عبارت ده له هغــې ټولې زراعتي ځمکې څخه چې په یو کال کې ورڅخه د زراعت په برخه کې کار اخیستل کیږي.

او یا داچې د کار لامل په دې زراعتي برخه کې په پام کې ونیسو نو دغه د کار لامل عبارت له هغو ټولو کسانو څخه دی چې په کار کې حاضر وي

د تولید د لاملونو د تقاضا په وخت کې باید پام وکړو ترڅو د تولید لپاره داســې توکې واخلو چې په کارولو سره یې د تولید لاملونه رامنځته شي.

یــا په ســاده ډول هغه چې د توکو او خدماتو په بــازار کې ترڅیړنې لاندې نیول کیږي هغه د توکو لګښــت کوونکي دي یعنې که د توکو په بــازار کې تقاضا کمه وي د تولید ډولونه هم په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کمه اندازه وي

نو په دې خاطر د تولید د ډولونو تقاضا ته (Derived Demand) ویل کیږي.

یا په بل عبارت باید د زراعتي توکو لپاره تقاضا موجود وي ترڅو کرنیزې ځمکې، ماشــین الات کاري ګروپونه د زراعتي توکو د تولید د لاملونو په توګه رامنځته شي

## مزد

مزد له هغه قیمت څخه عبارت دی چې استخدام کوونکې یې کاریګرو ته ورکوي ، مزد په هفته وار، میاشتنی، د جواز د امتیاز او کمیشن کار په شکل وي.

مزد نه یواځې په مستقیم ډول اخیستل کیږي بلکه په ډېر وخت کې د امتیاز په ډول اخیستل کیږي.

مزد رخصتۍ ، روغتیایي بیمې او نور حقونه هم لري او همداراز مزد په ســاعتونو ، ورځو، او د کار کولو څخه وړاندې هم ورکول کیږي خو له هغه ځایه چې مزد د کار په مقابل کې اخیستل کیږي په لاندې برخو ویشل شوی دی.

۱ – ټول کاریګر چې فزیکي او د ماغي کارونه ترسره کوي.

۲ – متخصص کسان لکه حقوقي کارپوهان، ډاکتران، انجینران، ښوونکي او نور.

۳ - د کوچنیو کسبونو خاوندان لکه، سلمان ، نلدواني، د کراچیو په واسطه چې یو څه خرڅیږي او نور.

پــه تصــدۍ کې د مزد ورکــول باید عادلانه وي او یا لږترلږه د کارګــر د کار د ترسره کولو سره برابــروي نــو پرته له دې کاریګر دې ته اړ کیږي چې کار پریــږدي او د تولید په کیفیت او کمیت منفي اغیزې وکړي.

مــزد د ترلاســه کولو د څرنګوالي لــه امله دوه ډوله دی چې د (، وقت تــه په کتو مزد ،) او ( فعالیت ته په کتو مزد ) په نوم یادیږي

**الــف- د وخــت له مخې مزد:** وخت ته په کتو مزد هغه مزد ته ویل کیږي چې د کار د وخت او د وخت مطابق ورکول کیږي په دې معنې چې دغه مزد ثابتې پیســې دي چې په ساعتو ، اونیو ، میاشــتو ، او یا د کال په تیریدو سره ورکول کیږي چې په دغه مزد کې وخت یو څه زیات او کم هــم کیږي چې په دې صورت کې کارګر دې تــه اړکیږي چې کار پریږدي څکه د کار خاوند کله نا کله د کارګرو د یوڅه زیاتې مودې پیسې نه ورکوي اوهمداراز له کارګرو سره عادلانه چلند نه کوي

د بیلګې په توګه: په تخنیکي کارونو کې چې د مزدوکا ر مزد د هغه د وړتیا پربنسټ نه ورکول کیږي لکه ، اداري کارونه ، رهبري کول ، تخنیکي کارونه چې په دې وخت کې مزد ورکول وخت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کتوسره ترسره کيږي.

**ب- د فعاليت له مخې مزد:** د دغه مزد په ورکولو کې وخت ته نه کتل کيږي بلکه د کارګر کار او فعاليت ته کتل کيږي يا په بل عبارت هغه مزد ته ويل کيږي چې د توليد شــوو توکو د اندازې مطابق کاريګرو ته مزد ورکول کيږي.

او يــا داچــې د دغه مزد ورکول د کار د اندازې او همــداراز د کيفيت او کميت پورې اړه لري چې د کاريګر د وړتيا په اندازه ورکول کيږي.

په يوه تصدۍ کې بايد د مزد ورکول په عادلانه ډول وي او د کاريګر د کار سره مناســب وي نو له دې پرته دکارګر د خفګان لامل ګرځي چې د توليد په کميت او کيفيت هم منفي اغيزې لري

مــزد يا تنخــوا د ورکړې د څرنګوالي له مخې په دوه ډوله ده چــې دوخت او کار د مزدونو يا تنخواګانو په نومونو سره ياديږي

د بيلګې په توګه که چيرې يو جوراب جوړونکی د هرې جوړې جورابو په مقابل کې ۱۰ افغانۍ واخــلي او هره ورځ ۲۰ جــوړې جورابې توليد کړي د هغه د هرې ورځــې مزد له (۱۰×۲۰=۲۰۰ افغانو) سره برابر دي.

کارګر هغه وخت دغه پيسې ترلاسه کولای شي چې په واقعيت کې يې جورابې جوړې کړې وي

خوداچې جوراب جوړونکي به د جورابو په جوړلو څومره وخت تير کړی وي نو همدا دليل دی چې د حقيقي مزد ترمنځ فرق موجود دی

## اسمي مزد Nominal wage

اسمي مزد هغه مزد ته ويل کيږي چې په ساعتونو ، ورځو ، مياشتو او يا په دې ډول په نورو کتګوريو کې ورکول کيږي

## حقيقي مزد Real wage

حقيقــي مــزد د توکو او خدماتو له اندازې څخه عبارت دی چې يو کارګر کولای شي د اســمي مزد په واسطه يې ترلاسه کړي

حقيقي مزد له اسمي مزد سره تړلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اوم څپرکي لنډیز

په اقتصاد کې د تولید لاملونه له مهمو مســـایلوڅخه دي د تولید پورې مســـتقیم تړاو لري او تولید د ژوند اندازه  یوه برخه جوړوي نو په دې اساس د تولید لاملونه له هغو توکو څخه عبارت دي چې په یوه ځانګړې دوره کې د تولید په سیستم کې داخلیږي او تولید ورڅخه جوړیږي

له هغه ځایه چې په اوم څپرکي کې د تولید لاملونه تشریح اوبیان شــول نو د تولید دلاملونو بازار تربحث او څیړنې لاندې و نیول شو.

په دې څپرکي کې د  اســتخدام او د تولید د لاملونو څخه  کار اخیســتل ترڅیړنې لاندې نیسو او د تولید لاملونه د تولید د مهمو وسایلو او اړینو توکو په توګه پیژنو

د بدني جوړښــت څخه بغیر ، ســویه ، لیاقت  او د عمر تجربې او داسې نور د تولید په کمیت او کیفیت کې مهم رول لري

په هر حال هیله لرو چې زده کوونکو له دې مطالبو څخه مناسبه استفاده کړې وي او د ذکر شوو مسایلو په اړه ښه تحلیل وکړي اوښه تجربه ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اوم څپرکي پوښتنې

۱. د تولید د لاملونو د بازار په اړه معلومات ورکړئ؟
۲. یو کس څرنګه کولای شي د تولید دعواملو په بیلابیلو بازارونو کې رول ولوبوي د مثالونو په ورکولو سره یې واضح کړئ؟
۳. د تولید لاملونه تعریف کړئ؟
۴. د اقتصادي تصدۍ او ملي اقتصاد له پلوه د تولید د لاملونو ترمنځ څه فرق دی؟
۵. د تصدۍ د تولید هر لامل بیان کړئ؟
۶. کار تعریف کړئ ؟
۷. د کار توکي او شکلونه یې بیان کړئ؟
۸. د کار د بازار په اړه معلومات ورکړئ؟
۹. د ځمکې د بازار په اړه معلومات ورکړئ؟
۱۰. سرمایه څه ته وایي ؟
۱۱. د تولید د لاملونوعرضه کول د یو ګراف په شکل ولیکئ؟
۱۲. د تولید د لاملونو عرضه بیان کړئ؟
۱۳. مزد تعریف کړئ ؟
۱۴. مزد په څو ډوله دی هریو یې په ځانګړي ډول بیان کړئ؟
۱۵. ایا لوړ مزد د کار په زیاتوالي کې رول لري؟ که وي څرنګه؟
۱۶. دکار نیرو یا کاري ګروپونه په عمومي ډول په څو کتګوریو ویشل شوي؟
۱۷. اسمي او حقیقي مزد بیان کړئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم څپرکی

## استهلاک

**ټولیزه موخه:**

د تصدۍ د ثابتې سرمايې ساتنه، د تولید د محاسبه کولو د لارو چارو او همداراز د لګښت د یوې برخې په توګه د استهلاك بیانول.

**د زده کړې موخې:** په دې څپرکي کې محصلین له لاندنيو ټکو سره آشنا کيږي:

- استهلاك
- د استهلاك ډولونه.
- د استهلاك علتونه او ثابته سرمایه.
- د استعمال له امله خرابيدل.

r. د وخت په تيريدو سره خرابيدل ( طبیعي خرابوالی )

s. د تخنیکي پرمختګ له امله خرابيدل.

t. د اقتصادي پرمختګ له امله خرابيدل.

u. د توکو د استخراج له امله خرابيدل.

v. د ناڅاپي پيښو له امله استهلاك.

### استهلاک

په ټولو هغو شتمنیو کې چې خرابوالی راځي ، استهلاك هم رامنځته ګيږي.

ثابتې شتمني له تعمیراتو، ماشينونو او د تصدۍ د سامان آلاتو څخه عبارت ده، همداراز

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکه هم په ثابته شــتمنۍ کې راځي خو په ځمکه کې زیاتوالی ، او کموالی نه راځي او له مینځه هم نه ځي.

هغه ثابتې شتمنۍ چې پورته ذکر شوې په مستقیم ډول د تولید په لړ کې په کار اچول کیږي او د دایمې استعمال په ترڅ کې زړیږي او د وخت په تیریدو سره له مینځه ځي.

اســتهلاك کیدای شي چې د تخنیکي اســتعمال له امله هم رامینځتــه شي ، د مود بدلون هم د شتمنۍ ارزښت کمولی شي ، او د ارزښت کموالی له محاسبې وروسته په استهلاك بدلیږي.

کولای شــو چې اســتهلاك په نورو ډولونو هم بیان کړو لکه ثابته شتمني چې په تولید کې له کارولو وروســته زړیږي او د وخت په تیریدو سره خرابیږي نوځکه دغه خرابوالی هم په شــتمنۍ کې لکه د کارګرانو د مزد او جایزې په شکل یو مصرفي شی دی.

د ثابتې شتمنۍ استهلاك هم یو لګښتي شي دی ، یا په بل عبارت استهلاك له هغې کړنې څخه عبارت دی چې د ثابتې شتمنۍ له مینځه تللي شیان ثابتوي.

### د استهلاک شکلونه

په دې صورت کې د ثابتې شــتمنۍ ( ماشــینونو ) څخه ګټه اخیستل سنجول کیږي او دماشین ارزښت د کلونو په اوږدو کې د همغه ماشین په واسطه په تولید شوو توکو ویشل کیږي او د کلني استهلاك پیسې لاسته راوړل کیږي

ځکه استهلاك یو آسان او عامه کرښه ده نو له دې امله ډیر استهلاکي میتودونه محاسبه کیږي.

### مثالونه

د یو پایه ماشــین قیمت ۴۰۰۰۰ زره افغانۍ دی چې د اســتفادې مــوده یې پنځه کاله ده نو کلنۍ استهلاك یې عبارت دی له:

$$\text{کلنی استهلاک}=\frac{40000}{5}=8000$$

پــه هغه صورت کې چې د وســایلو پاتې ارزښــت په پام کې ونیــول شي او فکر وشي چې دغه ماشین له استفادې وروسته په ۵۰۰ افغانیو و پلورل شي نوپه دې وخت کې کلنی برخه یا اشتراك مساوي دی له:

$$\text{کلنی استهلاک}=\frac{40000-5000}{5}=\frac{35000}{5}=7000$$

لکه څرنګه چې مووليدل په هندسي شکل کې د استهلاك د کموالی طریقه بشپړه نه شوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

( ۲۰۹ ۲۰ .۷۲ ) افغانۍ فرق رامنځته شو، نو د دې لپاره چې دغه ستونزه له مينځه لاړه شي نو له دې لارې څخه په ګټه اخستو سره باید دوه یا دریو خراب شوو توکو د استهلاك فیصدي وڅيړو او داسې یې تنظیم کړو ترڅو اماده شوې پیسې په پام کې ونیسو.

په دې طریقه کې ښکاري چې خراب شوي شیان له وروستي کال څخه پرته په نورو کلونو کې سره راجمع کیږي او له اصلي قیمت څخه یې منفي کیږي چې په پایله کې د کال وروستی استهلاك لاسته راځي.

د استهلاك هغه پیسې چې نه وي محاسبه شوي نو تصدي یې د کال په وروستۍ محاسبه کې په پام کې نیسي.

**۱. د استهلاك کموالی (د کموالی فکر او د استهلاك پیسې):** لکه څرنګه چې یې له نوم معلومیږي د استهلاك د کموالي په صورت کې هرکال د استهلاك پیسې لږې شمیرل کیږي او په استهلاك کې دوه ډوله کموالی شتون لري.

**a. د استهلاک هندسي کموالی:** په دې صورت کې د کال له ثابتې فیصدۍ څخه استهلاک سنجول کیږي او په نورو کلونو کې د ثابتې شتمنې له قیمت څخه استهلاک سنجول کیږي چې به دې صورت کې هر کال د استهلاک پیسې د کموالی خواته ځي.

مثال: د یو پایه ماشین قیمت ۶۰۰۰۰ افغانۍ دی او د ګټې اخیستنې موده یې ۱۰ کاله ده نو بناء هر کال ۱۰٪ د استهلاک پیسې ورته سنجول کیږي.

۶۰۰۰۰ افغانۍ = د تهیه کولو له قیمت سره

۱۰ = د ګټې اخیستنې له وخت سره

۱۰٪ = د استهلاک کلنۍ فیصدي

$$6000 = \frac{60000 \times 10}{100} =$$ د لومړی کال استهلاک

$$5400 = \frac{54000 \times 10}{100} =$$ د دویم کال استهلاک

$$4860 = \frac{48600 \times 10}{100} =$$ د دریم کال استهلاک

$$4374 = \frac{43740 \times 10}{100} =$$ د څلورم کال استهلاک

$$3936.6 = \frac{39366 \times 10}{100} =$$ د پنځم کال استهلاک

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$3524.9=\frac{35249\times10}{100}=$$ د شپږم کال استهلاک

$$3188.6=\frac{31886\times10}{100}=$$ د اووم کال استهلاک

$$2869.78=\frac{28697.82\times10}{100}=$$ د اتم کال استهلاک

$$2582.8=\frac{25828.04\times10}{100}=$$ د نهم کال استهلاک

$$2324.52=\frac{23345.24\times10}{100}=$$ د لسم کال استهلاک

---

د استهلاک مجموعي پیسې ۳۹۰۷۹,۲۸ =

20920.72=60000-39079.28

د تهیه کولو قیمت - د استهلاک پیسې = پاتې ارزښت

**b .a- د اســتهلاک ریاضیکي کموالی:** په دې اســتهلاک کې د تهیه شــوی قیمت څخه فیصدی سنجول کیږي او استهلاک محاسبه کیږي

مثال: د یو تعمیر قیمت ۷۵۰۰۰۰ دی او ورڅخه د ګټې اخیســتنې موده یې ۵ کاله ده، کلنی استهلاک یې په نزولی طریقې محاسبه کیږي.

۷۵۰۰۰۰ = د تعمیر د اخیستلوقیمت

۵ کاله = د ګټې اخیستنې وخت

۱+۲+۳+۴+۵= ټول کلونه

$$250000=\frac{750000\times5}{15}=$$ د لومړی کال استهلاک

$$200000=\frac{750000\times4}{15}=$$ د دویم کال استهلاک

$$150000=\frac{750000\times3}{15}=$$ د دریيم کال استهلاک

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$100000 = \frac{750000\times 2}{15} = \text{د څلورم کال استهلاک}$$

$$50000 = \frac{750000\times 1}{15} = \text{د پنځم کال استهلاک}$$

---

د استهلاک ټولې پیسې 750000 = افغانۍ

۱- د اســتهلاک لوړوالی: دغه اســتهلاک هم لکه د اســتهلاک د کموالی په څیر په حســابی او هندســی شکل ســنجول کیږي خو فرق یې دادی چې د استهلاک د کموالی په صورت کې د خراب شوو توکو پیسې په لومړي کال کې کمې او په وروستي کال زیاتې وي.

۲- د ظرفیت او قدرت په بنسټ د یوې ثابتې شتمنۍ استهلاک ته تجویزی استهلاک وایي چې په دې توګه کولای شو د استهلاک کلنی پیسې د یو ماشین د خربوالی سره پرتله کړو

۳- پــه دې ځــای کې د یو ماشــین قدرت او فعالیت د یو واقعِ معیار پــه توګه په پام کې نیول کیږي.

## د ثابتې شتمنۍ د استهلاک علتونه

**۱- د اســتعمال له امله د توکو خرابوالی:** یو مهم علت چې د ثابتې شــتمنۍ ارزښــت کموی هغه د توکو دوامدار اســتعمال دی ، د ماشــینونو په کار اچول تولید رامنځته کوی او د ماشــین د دوام دار اســتعمال له امله د هغه ســامان آلات خرابیږی او زړیږی چې دغه خرابوالی او زړښت د ماشین ارزښت کموی.

**۲- د وخــت لــه مخې د توکو خرابوالــی (طبیعي خرابوالی):** که له یوه ماشــین څخه ګټه هم وانه خیستل شي خو بیاهم د وخت په تیریدو سره یې ارزښت کمیږی ،په هغه صورت کې چې له یوه ماشــین څخه اســتفاده ونه شي نو د هغه پرزې زنګ وهی او سامان یې له فعالیته پاتی کیږي اوهمداراز ارزښت یې کمیږی او استهلاک کیږي.

**۳- د تخنیکي پرمختګ له امله دتوکو خرابوالی:** د مثال په توګه: د پخوانیوماشــینونو پرځای نوی ماشــینونه واخیســتل شي او له هغه څخه ګټه واخیستل شي چې له یوې خو ا د اقتصای پلوه ارزان تمامیږی او له بلې خوا کار په ډېر زیات سرعت سره سرته رسیږی.

**۴- د اقتصادي پرمختګ له امله استهلاک:** نه یواځې تخنیکي پرمختګ بلکې اقتصادي پرمختګ هم ماشینونه استهلاک کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال:  د مرسدس موټر جوړولو فابریکه  د موټرو بانډ جوړوي خو داچې هرکال د موټرو شکل او فورم بدلون مومي او نوی فورم او بانډ او ماشین استعمالیږي نو د موټر د ماشین  پخواني فورم او شکل بدلون مومي او ورو  ورو له منځه ځي او همداراز له ورځني سیستم ووځي او استهلاکیږي. په هرحال امکان لري چې یاد ماشین پنځه یا لس کاله نور هم د استفادې وړوي خو د نوي ماشین او فورم په کارولوسره کیدای شي پخواني ماشـین اوفورم په درې یا څلوروکلونو کې خپل ارزښـت له لاسه ورکړي او استهلاک شي.

**۵-  د وخت په تیریدو سره د توکو خرابوالی:** مثال:  یو سوداګر ته امتیاز ورکول کیږي چې د کابل ښـار په یو ساختمان کې مغازه جوړه کړي چې سوداګر هم نوموړي مغازه د اجاري په توګه اخلي او مخکې له مخکې   یو میلیون افغاني افغانۍ ورکوي ، په تړون کې د  حق الاجاره او د استفادې وخت ثابتیږي ، او ترلســو کلونو پورې دغه امتیاز دوکاندار اخلي او له لســو کلونو وروسته دوکان بیرته د ساختمان خاوند ته سپاري ، نو د ساختمان د امتیاز خاوند چې د دوکاندار څخه پیسې اخلي باید ترلســو کلونو پورې یې وکاروي اوتر اســتهلاک ترکچې یې ورسوي.  نو په دې صورت کې کلنی استهلاک ۱۰۰۰۰۰ یولك افغانۍ وي چې دا ډول استهلاک د وخت په تیریدو سره رامنځته کیږي.

**۶-  د توکو راایســتلو له امله د توکو خرابوالی:** مثــال:  په هلمند ولایت کې د تیږو جوړولو یوه تصدي ۴۰۰۰ زره جریبه ځمکه چې په هغه کې ســنګ مرمر یا برګې تیږې ایســتلو کیږي ، په ۵۰ میلیونــه افغانۍ پلــوري او د تیږو جوړلو تصدي په همدې ځمکه کې چې ســنګ مرمر تولیدوي نو تصدی د همدې تیږو د ایســتلو لپاره ماشــینونه په کار اچوي او تصدي هرکال د ځمکې قیمت محاســبه کوي او اســتهلاک ته یې فکر کوي او د استهلاک پیسې هم د معدن اندازې ته په کتوسره تعین کیږي ، نو بناء په دې صورت کې موږ د ځمکې یو اســتثنایي حالت ګورو چې د ســنګ مرمرو له پای ته رسیدو وروسته د استهلاک خواته ځي.

**۷-  په ناڅاپي حالت کې د توکو استهلاک:** په ناڅاپي حالت کې چې یوه شتمني استهلاک شي او یا خپل ارزښت په بشپړ ډول له لاسه ورکړي مثال ، د زلزلې یا سیلاب له امله چې توکي خراب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اتم څپرکي لنډیز

له شتمنۍ څخه د ګټې اخیستنې او یا نه اخیستنې له امله استهلاک منځته راځی. ټولې هغه شتمنۍ چې د خرابیدو وړ وي استهلاک رامینځته کیږي.

تعمیرات ، ماشـــین الات ، ســـامان آلات ، او ټوله هغه شتمني چې په مستقیم ډول د تولید په جریان کې کارول کیږي او د دایمي استعمال له امله خرابیږي ، زړیږي ، او همدارنګه خپل ارزښت له لاسه ورکوي له ثابتې شتمنیۍ څخه عبارت دی.

د ثابتې شـــتمنۍ ساتل او په هغه کې خرابوالی د تصدۍ د محاسبې له بنسټیزو دندو شمیرل کیږي او د لګښت په توګه د استهلاک د پیسو ځانګړی کول په تصدۍ کې یو اضافی امر دی ځکه په تصدیو کې د خرابو توکو محاسبه کول په بیلابیلو شکلونو رامنځته کیږي او هره تصدی د خپلو پالیسو مطابق په هغه فکر کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اتم څپرکي پوښتنې

**۱** – استهلاک په کومو شتمنیو کې په پام کې نیول کیږي؟

۲ – استهلاک تعریف کړئ ؟

۳ – د استهلاک شکلونه کوم دی نومونه یې واخلئ ؟

۴ – اتسهلاک نزولی یا په استهیلاک  کې کموالی او دهغه ډولونه بیان کړئ ؟

۵ – په استهلاک کې لوړوالی څرنگه دی بیان یې کړئ؟

۶ – د ثابتې شتمنۍ د ظرفیت په اساس څرنگه استهلاک محاسبه کیږي ؟

۷ – د استعمال له امله په توکو کې خربوالی بیان کړئ ؟

۸ – د توکو طبیعی خرابوالی بیان کړئ ؟

۹ – د وخت په تیریدو سره د توکو خرابوالی بیان کړئ ؟

۱۰ – ناسنجول شوی استهلاک بیان کړئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم څپرکی

## تمویل

**تولیزه موخه:**

د تمویل شکلونه او د لارو چارو سره یې آشنا کیدل او د سرمایې په کار اچول ترخو د تصدۍ اعتبار وساتل شي.

**د زده کړې موخې:** په دې څپرکي کې محصلین له لاندې مسایلو سره آشنا کیږي:

- تمویل
- کورنی تمویل
- پخپله تمویل
- پخپله ښکاره تمویل
- پخپله پټ تمویل
- استهلاک
- نهادونه
- د معقولو تدبیرونو په کار اچول
- بهرنی تمویل (مالی واسطې)
- بانکونه
- مالي دلالان
- د بیمې موسسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

- پلورونکي او پیرودونکي
- غیر تشبثات
- افراد او اشخاص
- د تشبثاتو کارکوونکي
- دولت

## تمویل

هــره تصدی چې وغواړی توکي یا خدمات وړاندې کړي په لومړی سرکې پیســو او سرمایی ته اړتیا لري

تصدۍ د توکو د تولید لپاره اړه ده چې په لومړی سرکی لومړني توکي واخلي او بیا یې شکل ته بدلون ورکړي او د جوړو شوو توکو په څیر یې بازار ته وړاندی کړي.

ټــول شرکتونه دایمې فعالیتونه لري او د تولید دمرحلولپاره سرمایی ته اړتیا ده که هغه نقدې وي او یاغیر نقدې ، تصدي ترهغه وخته د لومړنیو توکو په اخیستلو پیل کوی ترڅو یې په یوه کمه اندازه توکی نه وی تولید کړی.

شرکتونه هغه وخت کولای شي چې ګټه ترلاسه کړی چې بهترین مدیریت ولري او په ښه توګه خپل لګښتونه پوره کړی.

دغه موضوع د مالی مدیریت پوری چې د تصدی د مهمو څانګو څنې شــمیرل کیږي اړه لري او دمطالعې وړده

په تصدۍ کې د سرمایې چمتوکول په عمومي توګه په لاندی دوه ډوله ترلاسه کیږي :

**۱. د کورني تمویل له لارې.**

**۲. د بهرني تمویل له لارې (مالي واسطه).**

**۱. کورنی تمویل:** د سرمایی چمتوکولو هغه ډول ته ویل کیږي چې له بهر څخه په سرمایی کې نه وي ګډه شوي بلکې د تصدی په دننه کې د فعالیت له امله رامنځته شوی وی.

د کورني تمویل مهم ډولونه عبارت دي له:

**a. پخپله تمویل:** د تصدی د لاسته راغلې ګټې څخه چمتو کیږي لکه داسې چې سرمایه داران د خپلې ګټې برخه د تصدۍ څخه وانخلي او د تصدی د ضرورتونو د له منځه وړلو لپاره یې د تصدی په دننه کې پریږدي او ګټه ورڅخه واخلي چې داهم په لاندې برخو ویشل کیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲.په ښکاره شکل پخپله تمویل:** هغه تمویل ته ویل کیږي چې په تصدۍ کې ساتل شوې ګټه په ښکاره ډول د تصدی په حساب کې واچول شي.

**۳.پــه پټ شــکل پخپله تمویل:** هغــه تمویل ته ویل کیږي چې په تصدی کې ګټه پټه ســاتل شــوې وي او د ځینو لاملونو له امله د مالیاتو او یانورو شــکلونو په څیر د تصدۍ په بیلانس کې ونه ښودل شي.

**b.استهلاکات:** د کلنی استهلاک پیسې چې د تصدی په واک کې وي او د خپلو ضرورتونو د له مینځه وړلو لپاره ورځخه ګټه واخلي.

**c. ذخیروي نهادونه:** ډېرۍ وختونه متشــبثونه د خپلو وروســتیو موخو د عملي کولو په موخه ذخیرې جوړوي چې کله یې اصلي پیســې پــه لاس کې نه وي نو تصدۍ دهمدې ذخیرو څخه ګټه اخلي چې مهمې ذخیره وي پیسې د تقاعد دي.

**d. د معقولیــت تدابیر کارول:** ځینې وختونه تشــبثات د لازمــو ګامونو د پورته کولو له امله کم لګښت کوي او د کم لګښت له امله چې کومې پیسې پاتې کیږي، هغه د نورو اړتیاوو په پوره کولو لګوي.

**۴.د سرمایه لرونکو مارکیټونو لخوا تمویل (مالي واســطې):** هغه خدمات چې مالي واسطې یې وړاندې کوي، د سرمایه لرونکو ټولنو اود هغو شرکتونو لپاره چې سرمایې ته اړتیا لري مهم رول لري.

مالي واســطې د خلکو د لږو ذخیرو څخه کولای شي چې په کافي اندازه سرمایه برابره کړي او د تصدیو په واك کې یې ورکړي.

د سرمایــې د چمتو کولو لپاره بیلابیلې منابعې او لارې شــتون لــري چې مهمې یې په لاندې ډول دي:

۱. **بانکونه:** بانکي قرضونه له تجارتی اعتبار وروسته دویمه لویه مالی سرچینه ده.

تصدی او تجارتی شرکتونه د مالی امورو سربیره د بانکونو بیلابیلو قرضونو ته هم اړتیا لري.

۲. **مالي دلالان:** د هیواد اوسنیو حالاتو ته په کتوسره په پولی او سرمایوی مارکیتونو کې مالی دلالان مختلف رول لوبوی او د سرمایی چمتوکولو لپاره مهمه مرجع ده

۳. **بیموي موسســې:** د بیموي موسسو ځانګړتیاوې، له بانکي موسسو سره شباهت لري په دې معنی چې بیموي موسســې کمې پیســې د بیموي فیس او کمیشن په توګه له اشخاصو راټولوي او سرمایه زیاتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴. پیرودونکي:** له اخیستلو وړاندې مشتریان خپلې پیسې اخیستونکو ته ورکوي.

**۵. پــه پیرودونکــو بانــدې د پلورونکو قرض:** ځینــې وختونه پلورونکی د یو څــه مودې لپاره خپل خام توکي د قرضې په توګه تصدیو ته ورکوی چې په واقعیت کې په اخیســتونکي باندې د پلورونکي د قرض په توګه حسابیږي.

**۶. غیر متشــبثات:** ځینې وختونه داسې هم کیږي چې یو تشــبث د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د نور تشبثاتو څخه پیسې اخلي چې په دې صورت کې قرض ورکونکي تشبثونه د یوې سرمایه لرونکې سرچینې په توګه حسابیږي.

**۷. د پام وړ تشبث:** تصدی له خپل منځ څخه د سرمایې سرچینه پیدا کوی او اړتیاوې پوره کوي.

**۸. افراد او اشخاص:** ځینې وختونه افراد او اشخاص چې له خپلې اړتیا اضافی پیسې ولري خپلې زیاتې پیسې تشبثاتو ته ورکوی.

**۹. تشــبث کارکوونکي:** د کارګرانو د کار له پیل څخه تر معاش اخیستلو پورې په تصدیو باندې د کارګرانو قرض حسابیږي.

**۱۰. دولت:** دولت د نورو سرچینو ترڅنګ د هیواد شرایطو ته په کتو سره د یوې مهمې سرچینې په توګه د تشبثاتو لپاره فعالیت وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نهم  څپرکي لنډیز

هره تصدي چې وغواړي توکي یا خدمات وړاندې کړي نو په لومړي سر کې پیســو او سرمایې ته اړتیا لري او بیا د سرمایې لپاره مناسب ګامونه پورته کوي.

یــوه تصدی هغه وخت کولای شي چې بریا ترلاســه کړي چې یــو  قوی مدیریت او  د سرمایې لپاره یو دقیق جوړښت ولری.

د تصدیو او تشبثاتو  پروړاندې یوه جدي ستونزه په ښه توګه د خپلې سرمایې لګښت دی چې متصدیان اقتصادي چاپیریال ، د مارکیت وضعیت او نورو لاملونو ته په کتوسره خپله سرمایه لګوي.

په نهم څپرکي کې د تصدیو او مالي تمویل په اړه په تفصیل سره خبرې وشوې هیله کېږي چې محصلیــن د سرمایــی او د هغې د اهمیــت په اړه پوهیدلي وي او په ښــه توګه وکولای شي خپلې ستونزې حل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نهم څپرکي پوښتنې

۱ -د تصديو د تمويل په اړه معلومات ورکړئ؟

۲ – داخلی تمويل څه ته وايي؟

۳ – پخپله تمويل څه ته وايي او ډولونه يې وليکئ؟

۴ – په تصديو کې لازم تدابير څه اغيزې لري؟

۵ – د تمويل په اړه مالي واسطی بيان کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم څپرکی

## بازار موندنه (مارکیټنګ)

**ټولیزه موخه:**

د مارکیټینګ یا اعلاناتو د اهمیت په اړه معلومات، په تصدۍ کې د بنسټیز عنصر په توګه د بازار موندنې د اهمیت بیانول.

**د زده کړې موخې:** په دې څپرکي کې به زده کوونکي له لاندې مطالبو سره آشنا شي.

- د بازار موندنې مفهوم.
- د بازار موندنې موخې.
- د پیرودونکي رضایت.
- د پیرودونکي غوښتنې.
- د پیرودونکي غوښتنې او ضرورتونه.
- د بازار موندنې پلان جوړونه.

### د بازار موندنې مفهوم

بــازار موندنه یعنې د خرڅلاوپه اړه د تصدۍ د ټولو فعالیتونو همغږي کول. خو بازار موندنه یواځې خرڅولو ته نه ویل کیږي بلکې یوې معیاري کچې ته د یوې ټولنې رسول دي.

موږ په یوې داسې نړۍ کې ژوند کوو چې همیشه د بدلون په حالت کې ده.

پــه تیرو پیړیو کې صنعتي انقلابونو په تولید کې مهم بدلونونه راوســتل. د نن ورځې تصدۍ باید زیات معلومات او فعالې وي څکه په نړې کې همیشه بدلونونه راځي ترڅو وکولای شي دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلونونوته مثبت ځواب ووايي.

بــازار موندنه او هرڅه په کنترول کې ســاتل د يوې تصــدۍ د ثابت پاتې کيدو د مهمو لاملونو څخه شمېرل کيږي.

کلــه چې د ســټندرد (ISO) نړيوال ســازمان په نړۍ کــې د توکو د کيفيت ســاتلو په موخه د (ISO9000) په نوم سټندرد رامنځته کړ د نړۍ په ګوټ ګوټ کې موسسو او توليد کوونکو يو پر بل پســې د خپلو توکو د ارزښــت ساتلو په موخه د دغه سيستم څخه ګټه واخيسته او ځان يې ورڅخه خبر کړ ترڅو خپل توکي د شخصي محورۍ او سليقه يي سالارې وساتي او خپل فعاليتونه منظم کړي.

له ډېرو کلونو راهيسې له يوېخوا د عرضې د محدوديت له امله د رقابت نامنظم فعاليتونه ، او له بلې خوا کيفيت ته د توليد کونکو پام له بلې خوا د دې لامل شو ترڅو د اخيستونکو رضايت ته کمه پاملرنه وشی.

هنری فورد خپلو اخيســتونکو ته وويل ، هرډول موټر چې غواړۍ تاسوته يې درکوم خوپه دې شرط چــې رنګ يې تور وي ، په داســې حال کې چې نــن ورځ ډېر توليدکوونکي د خپل توليد يوه برخه د اخيســتونکو په خوښه وړاندې کوي. نوځکه د اخيســتونکو رضايت يواځې د محصول په کيفيت پای ته نه رسيږی.

## د بازار موندنې موخې

د بازار موندنې موخه د اخيستونکي په خوښه د عرضه کولو څخه عبارت دی.

ځکه بازار د اخيستونکو پورې اړه لري.

بازار موندنه د دې لپاره مهمه ده تر څو خلک د بيلابيلو محصولاتو له توليد خبر شي.

د بــازار موندنــې اصلي موخه معياری ژوند ته د ټولنې د رســولو څخــه عبارت دی چې د لوړ ظرفيت او د مطلوبو توکو د رامنځته کولو له لارې پوره کيږي.

د ښو او غوره توکو توليد، د اخيستونکو د خوښۍ سبب ګرځی نو له دې امله بازار موندنه بايد د اخيستنکو په خوښه رامنځته شي.

## د پيرودونکي رضايت څه ته وايي؟

که په عمومي ډول ووايو هر اخيستونکی په عام ډول له خدماتو يا توکو د ترلاسه کولو وروسته خوښ او يا ناخوښه وي، د رضايت لرل يو مثبت احساس دی چې د توليدوونکي او لګښت کوونکي ترمنــځ رامنځته کيږي خو په حقيقت کې دغه احســاس د اخيســتونکو د هيلــو د پوره کيدو او د عرضه کوونکو د کړنو وروســته رامنځته کيږي او که چيرې د توکو کيفيت د اخيســتونکو په خوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وي نو په دې صورت کې نارضايتي يا ناخوښې رامنځته کيږي.

لکــه څرنګــه چې مو وويــل يواځې د توکو او خدماتــو په وړاندې کولو نه شــو کولای چې د اخيستونکو رضايت ترلاسه کړو که چيرې يوه پلورنځي ته د څه اخيستلو لپاره لاړ شی نو وبه ګورئ چې خرڅوونکي په ډېرو ښو اخلاقو او ډول ډول بهانو غواړي چې ستاسو رضايت ترلاسه کړي ترڅو د دويم ځل لپاره هم د هغه څخه څه واخلئ. او موږ دې ته اړ کوي ترڅو د هغه پلورونکي څخه نور شيان هم واخلو.

د صنعتي هيوادونو په بازار موندنه کې د اخيستونکي د رضايت ترلاسه کولو لپاره ځانګړې لارې چارې په پام کې نيول شوې دي حتی تردې دمه چې د اخيستونکي د راجلبولو لپاره ، پلورونکی ډېر لګښتونه کوي.

له بلې خوا ناراضه اخيســتونکی د خپلو اخيســتونکو په ډله کې نه حسابوي. همداراز ناراضه اخيستونکی خپل خفګان ډېر ژر نورو اخيستونکو ته ليږدوي او هغوی ته دا ذهنيت ورکوي ترڅو د همغه پلورونکی څخه څه وا نخلي او د راضي اخيستونکو په پرتله د ناراضه فعاليت دوه برابره وي.

نو لدې کبله بايد فکر وکړو چې څرنګه خپل اخيستونکي راضي او خوشحاله وساتو

## د پيرودونکي د غوښتنو پيژندنه

د پيرودونکي د رضايت د لاســته راوړلو مهمه لاره د هغوی د غوښتنو ، نظرياتو او همداراز د وړانديزونو پيژندل دي اودا کار يواځې له خپل ځان سره په فکر او سوچ کولو لاسته نه راوړل کيږي بلکې پيرودونکو ته مراجعه او د هغوی د نظر اخيستلو نه وروسته ترسره کيږي. نو د اخيستونکو په غوښتنو د پوهيدو لپاره تصدي او توليدوونکی له ډول ډول تخنيکونو کار اخلي او له هغوی سره ډول ډول تليفوني اړيکي او مخامخ خبرې کوي.

په لنډ ډول هغه لاملونه چې د اخيستونکو د رضايت او خوښې سبب ګرځي په لاندې ډول دي:

۱- د اخيستونکو غوښتنې او ضرورتونه.

۲ – په پخوانيو توليد شوو توکو د اخيستونکي له باور او يقين څخه ګټه اخيستنه.

۳ – د تصدۍ لخوا لګښت کوونکو ته د توکو په اړه تبليغاتي پيغامونه.

۴ – د پخوانيو توکو په اړه لګښت کوونکوته تبليغات او په توکو باندې د هغوی د باور رامنځته کول.

۵- د توکو او خدماتو په اړه د اخيستونکو د فکر، نظر او باور معلومول.

۶ – د اخيســتونکو وضعيت معلومول، لکه د هغوی پيســې، د توکو د اخيستلو اندازه، د توکو د اخيستلو وخت او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په واقعیت کې د دغو لاملونو په پیژندلو باید د اخیستونکو رضایت ترلاسه شي

## د بازار موندنې پلان جوړونه

د بـــازار موندنې پلان جوړونه (Marketing) د یوې تصدۍ د تولیزو فعالیتونو له جملې څخه شمېرل کیږي.

د بازار موندنې پلان جوړونه د توصدیو لپاره مهم رول لري ځکه پلان جوړونه تصدۍ ته د ښو ظرفیتونو ، او د پرمختللو سرچینو د لاسته راوړنو لارښوونه کوي او همدارنګه د تصدۍ پروړاندې د موجوده ګواښـــونو ، پرمختګونو ، د وضعیت ساتلو ، ګټې ترلاسه کولو ، اخیستونکو ته د خدماتو د وړاندې کولو ، لپاره ډېره ګټوره تمامیږي.

نو لدې کبله د بازار موندنې لپاره ژور فکر کولو ته د بازار موندنې پلان جوړونه ویل کیږي او د بازار موندنې د پلان جوړونې له امله د تصدۍ او مارکیټ ترمنځ اړیکه رامنځته کیږي.

یا په بل عبارت د بازار موندنې پلان جوړونه د راتلونکو فعالیتونو د سندونو څخه عبارت ده.

همداراز د بازار موندنې پلان جوړونه د یو لیکلي ســند څخه عبارت ده چې د تصدۍ د بازار موندنې جزیات وړاندې کوي.

یا په لنډ عبارت د بازار موندنې پلان جوړونه د تصدیو لپاره مهم او ســتراتیژیك اهداف په پام کې نیسي او په عمومي ډول لاندې پړاوونه په ځنګ کې نیسي:

۱- **پلان جوړونه او د پلورلو په اړه وړاندینه:** د تصدۍ د توکو د پلورلو په اړه د لویو او لنډو موخو رامنځته کول یو ضروري امر دی.

۲- **د پلورلو تشکیلاتو:** د پلورلو د تشکیل جوړول زموږ سره مرسته کوي ترڅو د پلورلو په اړه بیلابیلې ستونزې یواځې د یو پلان په جوړلو هواري کړو.

۳ – **د پلورلو کنټرول:** د دې لپاره چې د بازار موندنې بېلابېلو موخو ته ورسیږو نو باید د پلورلو په اړه دقیقه څارنه وکړو او د پلورلو په اړه بیلابیلې لارښوونې په پام کې ونیسو.

۴ – **لارښـــوونې:** لارښوونه د بازار موندنې د مدیریت (Marketing manager) د مهمو دندو څخه شمېرل کیږي. د دې لپاره چې موخې په ښه توکه ترلاسه شي او د نورو خلکو په واسطه ترلاسه شي نو په دې وخت کې مدیریت یوې غوره لارښوونې ته اړتیالري.

۵ – **همغږي:** د نورو څانګو سره همغږي او اړیکې رامنځته شي.

۶ – **کافي حق الزحمه:** د اخیستونکو د تشویق لپاره په کار ده چې هغوی ته حق الزحمه ورکړل شي چې دا د پلورلو لپاره ډېره مهمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لسم څپرکي لنډيز

بازار موندنه او د تصدۍ د فعالیتونو همغږي کول باید د پلورنې په وخت کې زیات شي ترڅو ټولنه د ژوند معیاري سطحې ته ورسیږي.

مـوږ په یوې داسـې نړۍ کـې ژوند کوو چې تل د بدلون په حالت کـې ده ترکومه ځایه چې په تولید کې بیلابیل ډولونه رامنځته شـول چې د پلورنې بازار موندنه هم ورسره پیچلې شـوه نو تصدۍ باید په دغو مسـالیو ښـه وپوهیږي او د دغو پیچلو مسـایلو پروړاندې باید مثبت غبرګون او ځواب ولري.

نن ورځ سرمایه لرونکي او تولید کوونکي اړ دي چې د یوې سـتراتیژۍ په شـکل د خپلو ګټو د ساتلو په موخه د اخیستونکو رضایت ترلاسه کړي او له هر ډول لارو چارو څخه کار واخلي.

د دې لپـاره چـې یـوه تصدۍ یا تولید کوونکي د لګښـت کوونکو په خوښـه توکي او خدمات وړاندې کړي اوله بلې خوا په بازار کې د لګښت کوونکو او بړمهاله موخې چې دهغوی د رضایت څخه عبارت دی نولازمه ده چې د دوی لپاره ټولنيز او مناسب پروګرامونه په پام کې ونیسي.

پـه لنـډ ډول که د تصدۍ فعالیتونه په دریو پړاوونو ( تهیه، تولیـد او پلورلو) کې په پام کې ونیسـو نو وبه کولای شـو چې وروستی پړاو یعنې پلورل، د تصدۍ د مهمو فعالیتونو څخه شمېرل کیږي. چې د تصدۍ په نورو برخو هم اغیزه کولای شي.

د دغـو ضرورتونـو پام کې نیول، د بـازار موندنې په مفهوم او موخو پوهیدل، د اخیسـتونکو رضایت، د اخیستونکو په غوښتنه او توقع پوهیدل، د اخیستونکو په ضرورتونو پوهیدل او په پای کې د بازار موندنې پلان جوړونه هغه مهم ټکي وو چې په لسـم څپرکي کې وړاندې شـول او تمه کیږي چې محصلين له هغه څخه ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لسم څپرکي پوښتنې

۱.۱بازار  موندنه څه ته وايي تعريف يې کړئ؟

۲. ISO  څه ته وايي ؟

۳.د بازار موندنې موخې بيان کړئ؟

۴.د اخيستونکي رضايت څه ته وايي؟

۵.د اخيستونکي د رضايت لپاره کوم لاملونه په کار دي؟

۶.د بازار موندنې پلان جوړونه بيان کړئ؟

۷.د تصدۍ پلان جوړونه کوم پړاوونه لري بيان يې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرچينې او اخځليکونه

۱- دولتشــاهی، دکتر طهماسب محتشــم، فرهنگ کوچک اصطلاحات اقتصادي، چاپ اول، تهران ، مرکز پخش علوم دانشگاهی ، ۱۳۷۶

۲- گلریز، حسن، فرهنگ توصیفی اصطلاحات پول و بانکداری و مالیه بین المللی ، تهران ، واحد تحقیق و چاپ معاصر، ۱۳۸۰

۳- غوثی، دکتور محمد عارف، فرهنگ اصطلاحات اقتصادي، انگلیســی، دری، چاپ دوم، مطلبعه دولتی کابل ۱۳۵۲

۴- دوســت، پوهنــدوی دکتور محمد انور، مبادی اقتصاد تصدی، ســازمان مطالعــه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاه ها ، ۱۳۸۲

۵- راعــی، داکــتر رضا ، احمدتلنگی ، مدیریت سرمایه گذاری پیشرفته ، تهران، ســازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاه ها ، ۱۳۸۳

۶- قاسمی، داکتر عبدالرسول ، داکتر مصطفی شریف ، اقتصاد خورد، تهران، انتشارات و اطلاعات ۱۳۸۵

۷- قدیری اصلی، دکتر باقر، سیر و اندیشه اقتصادي، چاپ نهم، موسسه انتشارات و چاپ دانشگاه تهران، ۱۳۷۶

۸- پی نوو، ریموند، مدیریت مالی ، ترجمه دکتور علی جهانخانی و دکتور علی پارســیان، چاپ یازدهم، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگا ها، ۱۳۸۵

۹- سالواتوره، دومینیک ، تیوری مسایل اقتصاد مدیریتی ، ترجمه دکتور سید جواد پور مقیم، چاپ چهارم تهران، نشر نی ۱۳۷۶

۱۰- حلیمی، پوهنمل عبدالمالک، مبادی اقتصاد تصدی، پوهنحی اقتصاد پوهنتون کابل، ۱۳۸۴

۱۱- مجلــه کابــل بانک، ماهنامه اقتصادي، اجتماعی فرهنگی شــماره، چهاردهم و پانزدهم ثور و جوزای ۱۳۸۸ ، دستمزد و نقش آن در اقتصاد نویسنده معاون سر محقق شیر علی تزری

12- Cost accouting Dr.V.M.Govikar and Dr.Mrs.S.S.Kulkani , 1st edition 2008, pune India

13- Economics principles, problems and policies Campbell R. Mcconnell professor of Economic university of Nebraska and Stanley. L. Brue professor of Economic pacifics Lutheran university 1st edition Mcgrawhill.

14- Basic of marketing, Dr. P.C paradeshi , Dr Daniel panker Dr.E.B Khedkar 2nd edition pune, india

15- Principles of management p.c Tripatti university Udaipur p.n reddy professor banglore university 4th edition new Delhi 2008

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د ښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې د عيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سر کې يې تصميم ونيو، چې په ښوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بيا کتنه وکړي او ورپسې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د ښوونکو په مېرانې او همت سره د ادارې او حسابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوستونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شاګردانو او د تخنيکي او مسلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کېږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښوونکو او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د مسلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مسلکي، تخنيکي او علمي مطالبو او مفاهيمو د څرنګوالي په هکله خصوصاً د هغوی املايي او انشايي اشتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شان له ګرانو شاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او استفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ستونزې، فقر او وروسته پاتې والی په نظر کې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

پته: د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنيکي زده کړو معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا رياست
د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مديريت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**